د بدلون راوستلو لپاره:

# د حزب التحریر

# تګلاره

# د حزب التحرير له خپرونو څخه

**لومړی عربي چاپ**

**۲۴ جمادي الاولی ۱۴۱۰ هجري قمري – ۱۹۸۹ میلادي**

**دویم عربي چاپ**

**شوال ۱۴۳۰ هجري قمري – اکتوبر ۲۰۰۹ میلادي**

**دریم پښتو چاپ**

**۱۴۳۳ هجري قمري – ۲۰۱۲ میلادي**

**امة خپروني**

**افغانستان - کابل**

info@ht-afghanistan.org
www.ht-afghanistan.org

## له مطالعې وړاندې د پام وړ!

ستاسو په لاس کې دغه کتاب، له اصلي نسخې – چې په عربي ژبه کې لیکل شوې – ژباړل شوی دی. له همدې امله ټول هغه څه چې د مؤلف موخه ده، د هغه له اصلي ژبې څخه پرته بشپړ نشي رسېدلای، نو د ژباړل شوي کتاب ستونزې او نیمګړتیاوې له پامه وغورځوی او د لا غوره دقت لپاره کولای شی د هغه اصلي نسخې ته مراجعه وکړی.

په متن کې راغلي آیتونه د عثماني مصحف له لیکه نیز معیار سره د سمون له مخې، ژباړه یې په *مایل* لیک د اړوند سورت له آدرس سره او احادیث هم په کلاسیک عربي **ډبل** لیک له اړوند آدرس سره لیکل شوي دي او همداراز په ځینو حالتونو کې له ځانګړو نښو څخه ګټه اخیستل شوې ده، لکه:

ﷻ – سبحانه و تعالی

ﷺ – صلی الله علیه وسلم

رضي الله عنهم – رضی الله عنهم

عليه السلام – علیه السلام

رضي الله عنه – رضی الله عنه

قُلْ هَٰذِهِۦ سَبِيلِيٓ أَدْعُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِۚ عَلَىٰ بَصِيرَةٍ أَنَاْ وَمَنِ ٱتَّبَعَنِيۖ وَسُبْحَٰنَ ٱللَّهِ وَمَآ أَنَاْ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿١٠٨﴾ (١٠٨) يوسف

"ووايه، دا زما لاره ده، په وضاحت او بصيرة سره مو الله سبحانه وتعالی ته رابولم، زه او هغه کسان چې زما پيروي کوي او خدای پاک لره ثنا او پاکي ده او په حقيقت کې زه له مشرکينو څخه نه يم."

وَأَنَّ هَٰذَا صِرَٰطِي مُسْتَقِيمًا فَٱتَّبِعُوهُۖ وَلَا تَتَّبِعُواْ ٱلسُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَن سَبِيلِهِۦۚ ذَٰلِكُمْ وَصَّىٰكُم بِهِۦ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿١٥٣﴾ (١٥٣) الأنعام

**او دا زما لاره مستقیمه ده، نو د هغې پیروي وکړئ او په نورو لارو مه ځئ، ځکه تاسو به له هغه نېغې لارې څخه وباسي، دا هغه څه دي چې زه په هغې باندې درته توصیه کوم، هیله من یم چې تقوا به غوره کړئ.**

## بسم الله الرحمن الرحيم

**الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام على سيد المرسلين، وامام المتقين و على آله وصحبه، ومن دعا بدعوته، والتزم بطريقته، و ترسم خطاه، وجعل العقيدة الاسلامية اساساً لفكرته، والحلال والحرام مقياساً لتصرفاته، والأحكام الشرعية مسيرة لأعماله وضابطة لأقواله، وبعد:**

# د خلافت جوړول: په نړۍ کې د ټولو مسلمانانو تر ټولو مهمه او بنسټیزه قضیه

په نړۍ کې د مسلمانانو تر ټولو مهمه او بنسټیزه قضیه په هغه څه باندې چې الله ﷻ نازل کړي دي، د خلافت له لارې حکومت کول او د مسلمانانو لپاره د خلیفه درول دي، ترڅو د الله ﷻ په کتاب او د رسول ﷺ په سنتو باندې د عمل کولو په موخه ورسره بیعت وکړي، د کفر نظامونه له منځه یوسي، اسلامي احکام یې په پلي کېدو او تنفیذ کې ځایناستي شي، اسلامي خاورې په دار اسلام باندې واړول شي، ټولنه پکې اسلامي شي او اسلام نړۍ ته د دعوت او جهاد له لارې ورسوي.

د دغه مهمې او بنسټیزې قضیې په محدودولو سره هغه هدف محدودیږي، چې اړینه ده ترڅو د اسلامي دعوت حاملین د هغې د تحقق لپاره په کتلوي، حزبي او

د جماعتونو په ډول کار وکړي، چې په لاندې ډول سره هغه طريقه چې د هغې له لارې نوموړی هدف ترلاسه کوو، محدودوو.

د دې حقیقت د ښه درک لپاره د مسلمانانو اوسنی حالت، د اسلامي خاورو واقعیت، په اسلامي خاورو کې د دار د حکم حقیقت، د هغې ټولنې حقیقت، چې مسلمانان پکې نن ورځ ژوندکوي او د دې ټولو اړوند شرعي حکمونو پېژندنه او د هغه شرعي حکم پېژندنه اړینه ده، چې د دغه مهمې او بنستیزې قضیې د اجرا لپاره ضروري دی:

د مسلمانانو اوسنی حالت داسې دی، چې د اسلامي مفکورې برعکس پر هغوی باندې له اسلامي، غربي، اشتراکي، قومي، وطني، اقلیمي، مذهبي، قومي افکارو او احساساتو څخه مخلوطه شوې مفکوره واکمني لري.

د اسلامي خاورو اوسنی حالت او حقیقت د عربي هېوادونو په ګډون، په دوی ټولو باندې کفري نظامونه او د هغوی حکمونه واکمني لري. پرته له ځینې اسلامي حکمونو څخه، لکه د واده، طلاق، نفقې، میراث او د پلارګنۍ او زوی والی مسایل، چې ځانګړې محکمې یې ورته جوړې کړې دي، چې د اسلامي یا شرعي محکمو په نوم یې یادوي. له دې پرته د شرعي احکامو یوه برخه په ځینو هېوادونو، لکه سعودي او ایران کې تطبیق کیږي.

اما د دار حقیقت چې نن ورځ مسلمانان په هغه کې ژوند کوي، یعنې په ټولو د اوسېدو وړ سیمو کې دارالکفر دی، نه دارالاسلام. د دغه واقعیت د درک کولو لپاره باید د دارالاسلام او دارالکفر شرعي مفهوم وپېژندل شي.

دارالاسلام د شریعت په اصطلاح کې هغه دار ته ویل کیږي، چې په هغه کې د شرعي حکمونو پر بنسټ حکومت کیږي، امن یې اسلامي وي، یعنې د دوی امنیت د مسلمانانو په واکمنۍ باندې د ننه او بهر تامین شوی وي، آن که چېرې د هغوی ډېری اوسېدونکي غیر مسلمان هم وي.

اما دارالکفر د شريعت په اصطلاح کې هغه دار ته ويل کيږي، چې په هغه کې د کفر احکام ځواکمن وي او په هغو باندې حکومت کوي، امنيت يې اسلامي نه وي، يعنې د مسلمانانو د سلطان او ځواک څخه بغير د بل چا د سلطان او ځواک په لاس کې وي، اګر که ډېرى اوسيدونکي يې مسلمانان هم وي.

نو هغه څه چې د دار په څرنګوالي کې بنستيز رول لري، هغه احکام او امان (امنيت) دى، نه هغه هېواد او د هغه اوسېدونکي. نو که چېرې احکام يې اسلامي او امنيت يې د مسلمانانو په لاس کې وي، دارالاسلام ورته ويل کيږي او که چېرې احکام يې غير اسلامي او امان (امنيت) يې د کفارو په لاس کې وي دارالکفر يا دارالحرب ورته ويل کيږي. پورتنى مطلب له لاندني حديث څخه چې سليمان ابن بريده روايت کړى دى، اخيستل شوى دى:

**( ...ادعهم إلى الإسلام فإن أجابوک فاقبل منهم و كُفَّ عنهم، ثم ادعهم إلى التحول من دارهم إلى دارالمهاجرين، و أخبرهم أنهم إن فعلوا ذلک فلهم ما للمهاجرين و عليهم ما على المهاجرين)**

*"هغوى اسلام ته دعوت کړه، که يې مثبت ځواب درکړ، هغه قبول کړه او په هغوى باندې له حملې څخه ډډه وکړه او بيا هغوى خبر کړه، تر څو له خپل دار څخه د هجرت دار ته مهاجر شي، که چېرې هغوى هجرت وکړ، نو د مهاجرينو په جمله کې حساب شول او هغه څه چې د مهاجرينو لپاره دي، د هغوى لپاره هم شته او په دوى باندې هغه څه تطبيق کيږي، کوم چې په هغوى باندې هم عملي کيږي."* (مسلم)

نو د حديث شريف مفهوم دارنګه بيانېدلاى شي: که چېرې يې له خپل دار څخه د مهاجرينو دار ته هجرت ونکړ نو د دوى احکام د هغه چا له احکامو سره چې هجرت نه کوي توپير لري، يعنې په هغه څه کې چې د دار اسلام د اوسېدونکو لپاره دي. نو دغه حديث شريف د هغه چا چې دار المهاجرين ته ځي او هغه چا چې دار

المهاجرين ته نه ځي توپير بيانوي او د پيغمبر ﷺ په وخت کې د مهاجرينو دار د اسلام دار ؤ او له هغې نه پرته نور ټول دار کفر ؤ.

له همدې ځايه د دارالاسلام او دارالکفر، يا دارالحرب اصطلاح استنباط شوې ده، نو اسلام يا کفر ته د دار منسوبول، حکم او واکمنۍ ته منسوبول دي.

له دې ځايه روښانه کيږي، چې د دار منسوبول هغه لوري ته چې سلطان او ځواک پکې لري اړين دي او سلطان يا ځواک په دوو چارو سره تر لاسه کيږي:

لومړی په ټاکلو احکامو باندې د ګټو او مصلحتونو تنظيمول او رعايت کول.

او دويم: هغه قوت چې د رعيت له خوا يې ملاتړ کيږي، ترڅو احکام نافذ کړي، چې هغه د امان يا امنيت په نامه ياديږي. له همدې امله دغه دوه شرطونه وګڼل شول.

له دې پرته د احکامو د پلي کولو په باره کې د الله ﷻ دغه قول ښکاره دليل دی، چې وايي:

... وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْكَـٰفِرُونَ ﴿٤٤﴾

*"څوک چې پرته له هغه څه چې الله نازل کړي، حکم کوي کافران دي."* المائده،۴۴

او هغه څه چې د عوف ابن مالک په حديث شريف کې د شريرو امامانو په اړه راغلي دي، ويلي يې دي:

(قيل يا رسول الله: أفلا ننابذهم بالسيف؟ فقال: لا، ما أقاموا فيكم الصلاة)

*"ويل به يې: يا رسول الله آيا له هغوی سره په توره باندې مقابله ونه کړو؟ پيغمبر وويل: تر هغې پورې نه، چې ستاسې په منځ کې لمونځ دروي."* (مسلم)

همدارنګه د عباده ابن صامت په حديث شريف کې د بيعت په باره کې راغلي دي، چې:

(...و أن لاننازع الأمرأهله إلاأن ترواكفراًبواحاًعندكم من الله فيه برهان)

*"تر هغې پورې باید له حکامو سره منازعه او جګړه ونه کړو، تر څو مو چې له هغوی څخه ښکاره کفر نه وي لیدلی او د هغوی په باره کې د الله لپاره قطعي دلیل و نه لرو ."* بخاری

او د طبراني په روایت کې د (کفرا صراحاً) لفظ راغلی دی. دا په دې دلالت کوي، چې په غیراسلامي احکامو باندې حکومت کول هغه څه دي، چې له یوه حاکم سره جګړه او په وړاندې یې د تورې اخیستل واجبوي او د ا پخپله د دې دلیل کېدای شي، چې د اسلام پلي کول د اسلام د دار یو شرط دی، ګني په وړاندې یې توره اخیستل او جګړه واجبیږي. اما د امان د منسوبولو په اړه، اړینه ده چې امنیت باید د اسلام وي، یعنې د مسلمانانو په لاس کې وي او دا مسئله د الله ﷻ له دې قول څخه اخیستل شوې ده، چې وایي:

... وَلَن يَجۡعَلَ ٱللَّهُ لِلۡكَٰفِرِينَ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ سَبِيلًا ﴿١٤١﴾

*"هېڅکله الله د کافرانو واکمني په مسلمانانو نه ده مقرره کړې."* النسأ، ۱۴۱

په هېڅ ډول سره دکافرانو واکمني او تسلط پر مسلمانانو روا نه دی؛ ځکه که مسلمانان د کافرانو تر واکمنۍ لاندې واوسیږي د مسلمانانو امان هم د کفر امان کیږي، نه د اسلام امان.

هر هغه سیمه به چې د مسلمانانو تر ولکې لاندې نه وه، محمد ﷺ د هغې په باره کې د جنګ او غزا امر صادر کړی دی، ترڅو د مسلمانانو تر ولکې لاندې راشي او له هغه سره به یې د دارحرب په څېر جنګ کولو، سره له دې چې د هغه اوسېدونکي مسلمانان او یا غیر مسلمانان وي، مګر د وژنې په صورت کې یې د هغه د مسلمانو اوسېدونکو له وژلو څخه منع کړې ده. په دې دلیل چې له انس Γ څخه روایت دی، چې ویلي یې دي:

**(كان رسول الله ﷺ إذا غزا قوما لم يغر حتي يصبح، فإن سمع أذانا أمسك، وإن لم يسمع أذانا أغار بعد ما يصبح)**

***"كله به چې حضرت محمد ﷺ وغوښتل په يو قوم باندې حمله وکړي او غزا ورسره وکړي، هغه به تر سهاره غزا نه کوله، کله به چې سهار شو او آذان به يې واورېدو نو په هغوی باندې به يې حمله نه کوله او که به يې آذان وانه ورېد په هغوی به يې حمله کوله."*** **بخاری**

**له ابن عصام المزني Γ څخه او هغه له خپل پلار څخه روايت کړی دی، چې ويلي يې دي: کله به چې پيغمبر ﷺ د مجاهدينو يو ګروپ جهاد ته لېږلو، ورته ويل به يې:**

**(إذا رأيتم مسجداً أو سمعتم منادياً فلا تقتلوا أحداً)**

***"هغه مهال چې تاسې جومات وليد او يا مو د آذان غږ واورېد، نو هېڅوک مه وژنئ."***

**جومات او آذان د اسلام له شعايرو څخه دي او د هغې وجود په دې دلالت کوي چې د هغه ځای اوسېدونکي مسلمانان دي. مګر بيا هم د دارحرب په مسئله کې د وژلو او حملې کولو مانع کېدای نه شي. د دې معنی داده، چې يادې شوې سيمې دار حرب يا دار کفر شمېرل کيږي، سره له دې چې په هغه کې د اسلام شعاير هم موجود وي، پرته له دې د هغې سيمې امنيت چې د رسول الله ﷺ په سلطان او امان سره نه دی، نو دار حرب ګڼل کيږي او بايد په هغه سيمه باندې حمله وشي او فتح شي، ترڅو په دار اسلام کې داخله شي.**

**نو په دې سره ښه څرګنده شوه، چې نن ورځ په هېڅ اسلامي هېواد کې د اسلامي حکم شرط نه پوره کيږي، اګر که واکمني او امان يې د مسلمانانو په لاس او ځواک کې دی او په تاسف سره هغوی ته دار الاسلام نه ويل کيږي، بلکې هغه دار کفر دی، سره له دې چې اسلامي خاورې دي او اهل يې مسلمانان دي. ځکه چې د دار په مسئله کې احکام او امان اعتبار لري، نه خاوره او اوسېدونکي يې.**

خو په اسلامي هېوادونو کې نن ورځ د ټولنې واقعیت غیر اسلامي دی، ځکه چې ټولنه له افرادو، افکارو، احساساتو او نظامونو څخه جوړه شوې ده، یوازې له افرادو څخه نه ده جوړه شوې، تر دې چې هغې ته اسلامي ټولنه وویل شي، اګر که وګړي یې مسلمانان هم وي.

نو ټولنه په حقیقت کې د خلکو له هغه مجموعې څخه عبارت ده، چې د دوی ترمنځ دایمي اړیکې شتون ولري او که د خلکو تر منځ یې دایمي اړیکې شتون ونه لري، هغوی ته جماعت ویل کیږي او نشي کولای چې ټولنه رامنځ ته کړي لکه: په الوتکه، بېړۍ او یا قافله کې د سفر ملګري.

او تر هغه وخته پورې د خلکو تر منځ دایمي اړیکې نشي رامنځ ته کېدلی، ترڅو چې د دوی د فکرونو، احساساتو او نظامونو یووالی رامنځ ته نشي. نو که چیرې د دوی ترمنځ د دغه دریو اړخونو یووالی رامنځ ته نشي، هېڅ وخت دایمي اړیکې نشي رامنځ ته کېدای او تر هغې پورې چې دایمي اړیکې شتون ونه لري ټولنه نشي رامنځ ته کېدای.

له دې ځایه ویلای شو، چې ټولنه له خلکو، احساساتو، فکرونو او نظامونو څخه جوړه شوې ده او پر اساس یې ټولنې جوړیږي. له همدې امله د خلکو ترمنځ د افکارو، احساساتو او نظامونو په توپیر سره په ټولنو کې هم توپیر شتون لري.

د اسلامي هېوادونو په ټولنه کې، سره له دې چې ډېری خلک یې مسلمانان دي، مګر په هغوی باندې د افکارو، احساساتو او نظامونو یو مخلوط تسلط لري. له همدې امله د مسلمانانو په افکارو او احساساتو کې د څرګندو تناقضاتو لیدل څومره په زړه پورې موضوع نه ده. کله چې د اسلام خوا ته لېواله وي له هغې سره– سره دا هم مني چې د هغوی حاکم دې یو کافر شخص وي، لکه څنګه چې د هغو کفري نظامونو په وړاندې یې سکوت کړی کوم چې په دوی باندې پلي کیږي.

په داسې حال کې چې دوی د اسلام د ېرته راتګ هيله لري، خو په قومي، اقليمي، ډله ييز او مذهبي ناحيو باندې يې منګولې لګولې دي. هماغه مهال چې امريکا، روسيه او بريتانيا دښمنان بولي، مګر بيا هم له دوی څخه مرسته غواړي، ورسره دوستي کوي او خپلې مسئلې او اختلافونه په هغوی باندې حل کوي.

په هغه وخت کې چې په دې هم ايمان لري، چې ټول مسلمانان سره وروڼه دي، مګر بيا هم په نژادي او سيمه ييزو تعصباتو کې غرق تللي وي، عرب په خپل عربيت تعصب کوي، فارسيان په فارسيت تعصب کوي، شاميان په شامي توب تعصب کوي، مصريان په خپل مصري والي تعصب کوي. په داسې حال کې چې دا ټول تعصبات د اسلام ضد دي.

سره له دې چې په اسلام باندې ايمان لري مګر بيا هم په ډيموکراسی، آزادي ګانو، د خلکو په حکومت، اشتراکيت او نورو کفري فکرونو باندې ټينګ ولاړ دي او ځانونه د هغه طرفداران بولي، په داسې حال کې چې دا ټول له اسلام سره په تناقض کې دي.

سربېره پر دې د نن ورځې ټول هغه حکومتي نظامونه چې د اقتصاد، تعليم، بهرني سياست او مدني قوانينو په برخه کې په ټولو اسلامي هېوادونو کې واکمن دي، بې له شکه کفري نظامونه او د کفر قوانين دي او دا ټول هغه څه دي، چې د اسلامي هېوادونو ټولنه له اسلام څخه بشپړه وباسي.

نو د تېرو مسايلو په رڼا کې ويلای شو، هغه مسلمانان چې نن په نړۍ کې ژوند کوي، سربېره پر دې چې مسلمانان دي، مګر په اسلامي ټولنه کې ژوند نه کوي، بلکې د هغوی هېوادونو ته هم دارالاسلام نشو ويلای.

همدارنګه روښانه او څرګنده شوه، چې د مسلمانانو لپاره برخليک ټاکونکې قضيه، وروسته له هغې چې خلافت ونړول شو او اسلام په ژوند، دولت او ټولنه کې له پلي کېدو څخه ليرې کړای شو، د دوهم ځل لپاره په ژوند، دولت او ټولنه کې د اسلام د تطبيق اعاده او د مسلمانانو د خليفه ټاکل دي، چې په سمع او طاعت به

ورسره بیعت کوي، هغه به د الله ﷻ په کتاب او د رسول ﷺ په سنتو عمل کوي، د کفر احکام او د هغه نظامونه به را وپرځوي او د هغوی پرځای به اسلامي احکام او نظامونه رامنځ ته کړي او اسلامي خاورې به په دارالاسلام باندې واړوي او د هغوی ټولنې به اسلامي کړي او ټولې اسلامي خاورې به د خلافت په دولت کې سره یوځای کړي او اسلام به د دعوت او جهاد له لارې د نړۍ ګوټ ګوټ ته ورسوي.

د مسلمانانو د مهمې او بنسټیزې مسئلې او ستونزو د حل یوازنۍ لار، شرعي احکام دي، چې په ټولو مسلمانانو باندې واجب دي، ترڅو په ټولو هغو باندې عمل وکړي او هغه په ټولنه، ژوند او دولت کې تطبیق کړي. الله ﷻ فرمایي:

... وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَىٰكُمۡ عَنۡهُ فَٱنتَهُواْۚ ...

*"هغه څه چې رسول په هغې باندې تاسې ته امر کړی دی، په هغې عمل وکړئ او له هغه څه څخه یې چې منع کړې یاست پرهیز وکړئ."* الحشر، ۷

په دې ځای کې د (مآ) لفظ له عمومي صیغو څخه دی او وجوب د ټولو هغو اوامرو چې الله ﷻ ورباندې امر کړی او پرهیز له ټولو هغو منکراتو څخه چې هغه ﷻ له هغو څخه منع کړې، ورڅخه مراد دي.

الله ﷻ فرمایي:

وَأَنِ ٱحۡكُم بَيۡنَهُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ وَلَا تَتَّبِعۡ أَهۡوَآءَهُمۡ وَٱحۡذَرۡهُمۡ أَن يَفۡتِنُوكَ عَنۢ بَعۡضِ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ إِلَيۡكَۖ ...

*"د دوی په منځ کې په هغه څه باندې چې الله نازل کړي دي حکم وکړه او د هغوی د غوښتنو پیروي مه کوه او پام کړه، چې داسې نه شي تا ته فریب درکړي او له تا څخه د هغه څه د تغیر او بدلون غوښتنه وکړي، چې خدای نازل کړي دي."* المائده، ۴۹

دا د الله ﷻ د هغه رسول ﷺ او مسلمانانو ته داسې یو امر دی، چې په ټولو ما انزل الله باندې حکم کول یې واجب کړي دي، ځکه چې د (ما) لفظ یو عمومي لفظ دی او ټول هغه احکام چې الله ﷻ نازل کړي دي په کې شاملیږي، همدارنګه د الله ﷻ هغه قول چې وایي:

... وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْكَـٰفِرُونَ ﴿٤٤﴾

*"هر هغه څوک چې په هغو احکامو باندې چې الله نازل کړي دي حکم ونکړي، هغه له کافرانو څخه دی."* **المائده، ۴۴**

یعنې هرهغه څوک چې په هغه ټولو اوامرو چې الله ﷻ نازل کړي دي حکم ونه کړي له کافرانو څخه دی، ځکه چې د (ما) لفظ یو عمومي لفظ دی او ټولو هغو احکامو ته چې الله ﷻ نازل کړي دي شاملیږي.

له ذکر شوو آیتونو څخه څرګندیږي چې حکم کول په ټولو هغو اوامرو چې الله ﷻ نازل کړي دي واجب دي او د دې امر منل نن ورځ په ټولو اسلامي هېوادونو کې شتون نه لري، نو د دې لپاره چې اسلام بیا په ژوند، دولت او ټولنه کې پلی شي، د امت ترټولو مهمه او برخلیک ټاکونکې قضیه ده.

اما د احکامو هغه پلې کېدنه چې اسلام مسلمانانو ته ورباندې امر کړی دی، دا قضیه یې د امت د مرګ او ژوند د اجرا مسئله بللې ده. په دې اړه مسلم له عوف ابن مالک څخه یو حدیث شریف روایت کړی، چې رسول الله ﷺ وویل:

(ستکون أمراء فتعرفون و تنکرون فمن کره برئ و من أنکر سلم و لکن من رضی و تابع، قالو: أفلا نقاتلهم؟ قال: لا، ما صلوا)

*"په نژدې راتلونکي کې به داسې امیران وي، چې هغوی به معروف او منکر اعمال ترسره کوي، نو هر هغه چا چې امر یې په معروف وکړ برائت یې حاصل کړ او هر چا چې له منکر څخه په ډډه کولو امر وکړ، سالم پاتې شو. مګر هر هغه څوک چې له*

*هغوی څخه راضي شو او یا یې پیروي وکړه. دوی وویل: آیا له هغوی سره جګړه ونه کړو؟ ورته ویې ویل: نه، ترهغه چې لمونځونه ادا کوي."*

په بخاري شریف کې له عباده ابن صامت څخه روایت شوی دی، چې ویلي یې دي:

**(دعانا النبي ﷺ فبايعناه، فقال فيما أخذ علينا أن بايعنا على السمع والطاعة في منشطنا ومكرهنا وعسرنا ويسرنا، وأثرة علينا، وأن لا ننازع الأمر أهله إلا أن تروا كفرا بواحا عندكم من الله فيه برهان)**

***"پیغمبر ﷺ موږ را وغوښتلو او له هغه سره مو بیعت وکړ او د هغه تعهداتو له جملې څخه چې له موږ سره یې کړي وو، یو دا ؤ چې اوریدل او اطاعت کول د خوښۍ او نا خوښۍ، سختۍ او آسانۍ او حتی په هغه صورت کې چې نورو ته به مو پر موږ باندې ښه والی ورکاوه، له هغو سره مو بیعت وکړ او همدارنګه په دې باندې چې له حاکمانو سره په جنګ او منازعه نه کوو، مګر په هغه صورت کې چې ښکاره او بواح کفر له هغوی څخه ووینئ، ترڅو له تاسې سره د دوی په اړه د الله ﷻ په وړاندې قاطع دلیل وجود ولري."***

د طبراني په روایت کې د (كفراً صراحاً) لفظ راغلی دی او د لمانځه قایم ساتل د عوف ابن مالک په حدیث شریف کې د دین د قایم ساتلو په معنا دی او هغه اطلاق د جز دی پر کل باندې، چې په اسلامي احکامو باندې د حکم کولو یوه کنایه ده او د کفر بواح عبارت چې د عباده ابن صامت په حدیث شریف کې راغلی د ښکاره کفر په معنا دی، چې د حاکم په افعالو کې ولیدل شي، یعنې هغه د کفر په احکامو حکم کول دي.

د دواړو حدیثونو مفهوم دا دی، چې که چیرې واکمنان اسلامي احکام عملي نه کړي د هغوی په مقابل کې باید په توره مقابله وشي او که یې د کفر په احکامو امر وکړ نو له هغوی سره به جنګ کوو او که له واکمنانو څخه کفر بواح ښکاره شو له

هغوی سره به جنګ او منازعه کوو او په توره قيام کول، له هغو سره جنګ کول دي تر څو هغه له واکمنۍ څخه و غورځيږي او د اسلام احکام بېرته عملي شي.

نو له پورتينو دلايلو څخه روښانه کيږي، چې حکم کول په اسلام واجب او په کفر باندې حکم کول منع شوي دي، او دا قضيه د مسلمانانو لپاره يوه مهمه او برخليک ټاکونکې قضيه ده، چې هغې ته بايد د مرګ او ژوند د مسئلې په توګه وکتل شي.

## د غير سياسي کتلو پاڅون، د خلافت د قايمولو فريضه نشي ترسره کولای

د اسلامي ژوند د بيرته احيا کولو معنی داده، چې مسلمانان د اسلام ټول احکام عقايد، عبادات، اخلاق، معاملات، د حکومت، اقتصاد، اجتماع او تعليم نظامونه پلي، له نورو امتونو، ولسونو او دولتونو سره د بهرنيو اړيکو پر بنسټ بهرنی سياست تيينګ، اسلامي خاورې په دار اسلام او ټولنه په اسلامي ټولنه باندې واړوي.

د اسلامي ژوند بيرته راتګ د اسلامي خلافت له قايمولو او د مسلمانانو د خليفه له نصب پرته نشي راتلای، هغه خليفه چې مسلمانان د الله ﷻ په کتاب او د رسول الله ﷺ د سنتو په تطبيق ورسره په اوريدلو او طاعت باندې بيعت کوي.

د اسلامي ژوند د بيا رامنځ ته کولو لپاره کار هلته مثمر کيدای شي چې په ډله ييز ډول ورته کار وشي او روا نه ده چې دا عمل فردي ترسره شي، ځکه په فردي عمل سره موخه نشي ترلاسه کېدای، ځکه د فرد که هرڅومره عقل او فکر لوړ شي بيا هم نشي کولای دا موخه ترلاسه کړي، بلکې خامخا بايد له يوه جماعت او ډلې سره کار وکړي، له همدې امله اړينه ده چې د خلافت د قايمولو او په ما أنزل الله باندې د حکومت د اعادې لپاره بايد ډله ييز کار ترسره شي، هغه د کتلې، حزب او يا هم د يوه جماعت په څېر.

او واجب دی چې دا عمل بايد سياسي وي، روا نه ده چې غير سياسي وي، ځکه د خلافت قايمول او د خليفه رامنځ ته کول سياسي عمل دی، همداراز په ما أنزل الله باندې حکومت کول هم سياسي کار دی او دا له سياسي عمل پرته په بل ډول نشي رامنځ ته کېدای.

هغه کتلې چې د غير سياسي کارونو لپاره رامنځ ته شوې دي د مسلمانانو له مهمې بنستيزې او برخليک ټاکونکې قضيې سره هېڅ تړاو نه لري، او پر مسلمانانو باندې د هغه واجبي موخې ترلاسه کول د دوی د کار په واسطه هېڅ امکان نه لري،

کومه چې د خلافت قايمول او په ما أنزل الله باندې د حکومت کولو اعاده ده. هغه لکه لاندې کتلې:

**الف ــ** هغه سازمانونه چې د خيريه کارونو لپاره رامنځ ته شوي دي:

هغه کتلې چې د خيريه کارونو لکه د روغتونونو او مدرسو جوړول، له فقيرانو، يتيمانو او محتاجو خلکو سره مرسته کول، سره له دې چې اسلام، مسلمانان دا رنګ کارنو ته تشويقوي، مګر دغه کارونه د مسلمانانو د مهمې بنستيزې او برخليک ټاکونکې قضيې سره هېڅ اړيکه نه لري او له دې څخه هېڅ وخت هغه هدف چې په مسلمانانو باندې د هغې لپاره کار کول او فعاليت واجب دی، نشي ترلاسه کېدای. نو د دغو کتلو د فعاليت محدوديت د داسې اعمالو په ترسره کولو سره، د هغوی د هغه کار او فعاليت مانع کيږي، چې هغه واجب دی او هغه په ما أنزل الله باندې د حکومت کولو بيا اعاده ده.

سره له دې په دايمي ډول د کتلې پاڅون د خيريه کارنو لپاره په دايمي ډول د چارو رعايت بلل کيږي او په دايمي توګه د چارو سرپرستي د دولت له واجبي دندو څخه شمېرل کيږي، نه د افرادو او جماعتونو له وجيبو څخه.

اما په غير دايمي توګه د خيريه کارونو سرته رسول په دايمي توګه د چارو په رعايت او تنظيم کې نه حسابيږي او د هغې سرته رسول يو مشروع کار دی او شريعت هم د هغه په کولو خلک تشويقوي، مګر بيا هم د مسلمانانو له مهمې او بنستيزې برخليک ټاکونکې قضيې سره هېڅ اړيکه نه لري.

**ب ــ** هغه کتلې چې خلک عباداتو او د سنتو پيروۍ ته رابولي:

عباداتو او په سنتو باندې د پابندۍ لپاره بلنه او دعوت يوښه کار دی او اسلام هم په هغه باندې امرکړی دی او هغه د اسلام يوه هغه برخه ده، چې الله ﷻ په مسلمانانو واجب ګرځولې ده، ځکه چې ويلي يې دي

وَلۡتَكُن مِّنكُمۡ أُمَّةٌ يَدۡعُونَ إِلَى ٱلۡخَيۡرِ ...

***"ستاسي په منځ کې باید داسې یو ټولی وي، چې خلک نیکۍ ته راوبولي."*** **آل عمران، ۱۰۴**

**عبادت او د رسول الله ﷺ سنتو ته بلنه او دعوت د اسلام یوه برخه ده او دعوت او بلنه ټول اسلام ته او د اسلام ټولو برخو ته واجب ده، چې هغه عبارت دي له عقایدو، عباداتو، اخلاقو، معاملاتو، حکومتي نظامونو، اقتصاد، ټولنه، تعلیم، بهرنی سیاست او نور شرعي احکام او یوازې عباداتو او د رسول الله ﷺ سنتو ته بلنه، د مسلمانانو له مهمې بنسټیزې او برخلیک ټاکونکې قضیې سره هېڅ اړیکه نه لري او دا امکان نلري چې د دې لارې هغه هدف لاس ته راوړو، کوم چې د هغه لپاره کار په مسلمانانو واجب دی.**

**په دې کارونو او یا دې ته ورته کارونو باندې لګیا کېدل، جماعت له هغه کارونو څخه کوم چې د مسلمانانو پاڅون د هغو لپاره واجب دی منصرف کوي او هغه کارونه د کفري احکامو لرې کول او پرځای یې په ټولنه، دولت او ژوندانه کې د اسلامي احکامو تطبیقول دي.**

**ج ــ هغه ټولنې چې د اسلامي کتابونو د تالیف، اسلامي ثقافت او فرهنګ د پراختیا او وعظ او ارشاد په موخه رامنځ ته شوې دي:**

**د اسلامي کتابونو تالیف، د اسلامي ثقافت پراختیا او نشر او وعظ او ارشاد د ډېرو لویو او ارزښتناکو کارونو له جملې څخه دي، مګر دا د مسلمانانو د مهمې بنسټیزې او برخلیک ټاکونکې قضیې د حل لاره نه ده او نه د اسلامي خلافت د قایمولو او په ژوندانه، ټولنه او دولت کې د اسلام د تطبیق لاره ده.**

**نو په دې اساس که فکرونه د عمل ډګر ته په سیاسي ډول راونه وزي او د ژوند په صحنه کې په سیاسي توګه حمل نشي نو دا به د هغه ذهني معلوماتو او**

اکاډیمکو افکارو په څېر پاتې شي، کوم چې د کتابونو په ګېډه او د خلکو په ذهنونو کې پاتې دي. اسلامي کتابخانه د اسلامي ثقافت له زرګونو ګټورو او ارزښتناکو کتابونو څخه ډکه ده، مګر هغه ټول په خپل ځای کې جامد او باقي پاتې دي. نو تر هغې چې دغه فکرونه د عمل ډګر ته راونه وزي او په سیاسي توګه د ژوند په صحنه کې حمل نشي، لکه څنګه چې دي په خپل ځای به همداسې جامد او باقي پاتې وي.

د اسلام او د هغه د ثقافت په تدریس کې هغه متخصص پوهنتونونه أزهر، زیتونه، نجف او داسې نور دي، په دې ټولو پوهنتونونو کې اسلامي ثقافت په نظري او اکاډمیکه توګه تدریس کیږي، نه په عملي توګه او د تطبیق په موخه هر کال له هغوی څخه په زرګونو علما فارغیږي، مګر هغوی ټول پرته له حرکت کوونکو کتابونو څخه بل څه نه دي، ځکه هغوی اسلام په نظري توګه ویلی او زده کړی دی، د هغه د عملي کولو په موخه یې نه دی لوستلی، ترڅو هغه په ژوندانه، ټولنه او دولت کې حمل او تطبیق کړي.

نو دا هم نا آشنا خبره نه ده، چې هغوی موږ وګورو چې شرعي احکام او اسلامي معیارونه د حلال او حرام له مخې د خپل نړۍ لید بنسټ د خپلو اعمالو مقیاسونه او په پیښنو او حوادثو باندې د حکم د صادرولو اساس نه ګرځوي.

دې کتلو ته ورته هغه کتلې چې تألیف ... اعمال سرته رسوي، د حکم له پلوه، هغه کتلې دي چې خپل عمل یې نبوي احادیثو او په هغو باندې تخریج ته منحصر کړی، سره له دې چې دا یو ارزښتناک او غوره عمل دی مګر د خلافت د قایمولو په لاره کې چې د مسلمانانو تر ټولو مهمه او بنسټیزه مسئله ده، کومه هڅه نه شمېرل کیږي.

د ـــ هغه ټولي او سازمانونه چې د أمربالمعروف اونهی عن المنکر لپاره رامنځ ته کیږي:

امر بالمعروف او نهی عن المنکر یو له هغو کارونو څخه دی چې الله ﷻ په مسلمانانو باندې واجب کړی دی، لکه چې فرمایلي یې دي:

وَلۡتَكُن مِّنكُمۡ أُمَّةٞ يَدۡعُونَ إِلَى ٱلۡخَيۡرِ وَيَأۡمُرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَيَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِۚ ...

*"باید ستاسو په منځ کې داسې یوه ډله خلک وي، چې هغوی دعوت وکړي خیر ته او په معروفوکارونو امر وکړي او له منکرو کارونو څخه خلک منع کړي."* آل عمران، ۱۰۴

امر بالمعروف او نهی عن المنکر په مسلمانانو باندې په هر وخت کې فرض ګرځول شوي دي، هغه که خلافت وي اوکه نه وي یا که اسلامي احکام په حکومت او جامعه کې نافذ وي او که نه وي. بې له شکه امر بالمعروف او له منکر څخه منع د حضرت محمد ﷺ په وخت کې موجود ؤ او د ده د راشدینو خلفاؤ او د هغو د ځای ناستو په وخت کې هم جاري ؤ او له هغوی وروسته هم موجود ؤ او د زمانې تر پایه پر مسلمانانو فرض پاتې دی.

مګر امر په نېکۍ او منع له منکر څخه د خلافت د رامنځ ته کولو لار نه ده او نه هم د هغه په واسطه موږ کولای شو چې اسلام په ژوندانه، ټولنه او دولت کې تطبیق کړو. سره له دې چې د اسلامي ژوند د بیا رامنځ ته کولو په لاره کې د هځو یوه برخه جوړوي، ځکه د هغو په واسطه له حکامو سره محاسبه کیږي، نېکو کارونو ته رابلل کیږي او له منکرو کارونو څخه منع کیږي. مګر هغه کار او فعالیت چې د اسلامي ژوند د را منځ ته کېدو لپاره ترسره کیږي، د أمر بالمعروف او نهی عن المنکر له کار او فعالیت څخه بېل دی.

په دې ځای کې اړینه ده چې پام دغه ټکي ته راواړؤ، د امر بالمعروف او نهی عن المنکر او د یو منکر کار د له منځه وړلو ترمنځ فرق شتون لري، د امربالمعروف

او نهی عن المنکر کارونه تنها په ویلو خلاصه کیږي، اما د یو منکر د له منځه وړلو کار د ویلو په برخه کې نه خلاصه کیږي، بلکې دولت ته اړتیا پیدا کوي چې د شرعې احکام پلي کړي، نو په امر بالمعروف او نهی عن المنکر باندې محدود عمل کول پرته د هغه دولت له ایجاد څخه کوم چې منکر له منځه وړي، د مسلمانانو د مهمې بنسټیزې او برخلیک ټاکونکې قضیې لپاره د حل لاره نه ده. او آن د لاس او مادي قوت استعمالولو ته رسیږي او دلیل یې هم د پیغمبر ﷺ دا قول دی، چې مسلم له ابوسعید $\Gamma$ څخه روایت کړی دی:

**(من رأى منكم منكرا فليغيره بيده فان لم يستطع فبلسانه فان لم يستطع فبقلبه وذالك اضعف الايمان)**

***"هر چا چې له تاسې څخه یو ناوړه او بد کار ولید باید هغه په خپل لاس سره منع کړی، که یې دا ونه شوکړای نو په ژبه سره دې یې منع کړي او که د دې توان یې هم نه درلود، نو په زړه کې یې باید بد وبولي او دغه د ایمان تر ټولو ضعیفه مرحله ده."***

د لاس کارول د یو منکر کار د له منځه وړلو لپاره، د هغه سړي په توان دلالت کوي او د حدیث منطوق په دې باندې دلالت کوي چې په هغه صورت کې باید په لاس سره منع شي، چې له هغې نه په لویه فتنه بدل نه شي لکه د قتل فتنه او د منکراتو له منځه وړل، د خلکو له طرفه دا هغه مساله ده چې د خلافت د رامنځ ته کولو او د اسلام حاکم کېدل په ټولنه، ژوندانه او دولت کې له دې سره هېڅ تړاو نه لري.

دا د ډېر اهمیت خبره وه، چې یاده شوه، ځکه امر بالمعروف او نهی عن المنکر ترهغه نه صحیح کیږي، چې پرته له حاکم څخه یوازې له محکوم سره ترسره شي، بلکې د حاکم په وړاندې ترټولو واجبه ده، نو د حاکم محاسبه په اسلام کې ډېر مهم امر دی، رسول ﷺ په دې اړه ویلي دي:

**(إنه ستكونُ أُمراء تَعرِفون و تنكرون، فمن أنكر فقد برئ، و من كَرِهَ فقد سلِم، و لكن من رضي و تابع)**

***"بې له شکه ژر ده چې داسې اميران به وي چې د هغوی ځينې اعمال به يې معروف او ځينې به يې منكر وي، نو هر چا چې نهی عن المنكر وكړ خلاصون يې ومووند او چا چې بد وګڼل سلامت پاتې شو، مګر هغه څوک چې راضي شو او متابعت يې وكړ"***

**مسند أحمد.**

نو هغه نه سلامت پاتې شو او نه يې هم خلاصون ومووند. يعنې چا چې منكر كار بد وګاڼه، نو تغير دې په كې راوړي، چا چې د بدلون قدرت نه درلود، نو په زړه كې يې دې بد وګڼي، هغه سلامت پاتې شو او څوک چې د هغوی په كړنو باندې راضي شول او په عمل كې يې د هغوی پيروي يې وكړه، نه يې برائت حاصل كړ او نه سالم پاتې شو. رسول ﷺ ويلي دي:

**(سيدُ الشهداءِ حمزة بنِ عبد المطلب و رجل قام إلى إمام جائرٍ فأمرَهُ و نَهاهُ فقَتَله)**

***"حمزه د عبدالمطلب زوی او هغه کس د شهيدانو سردار دی چې د يوه ظالم پاچا په وړاندې پاڅي او له هغه سره امر او نهی وكړي، خو ظالم پاچا هغه وژني."*** **الحاكم في المستدرک**

او ويلي يې دي:

**(اْفضل الجهاد كلمة حق عند سلطان جائر)**

***"تر ټولو غوره جهاد د حق خبره ده، چې د ظالم پاچا پر وړاندې وويل شي."*** **المعجم الكبير/ مسند أحمد.**

لكه څنګه چې شريعت د دار الاسلام له حاكم سره چې بواح كفر ورڅخه څرګند شي په قولي محاسبې باندې اكتفا نه كوي، يعنې كله چې د كفر په احكامو باندې حكومت وكړي او يا په اسلامي خاوره كې د كفر د طغيان په وړاندې سكوت وكړي، يا خليفه د زنا، سرقت، شرابو او يا بل معلوم او اړين شرعي حكم لغوه كړي،

په دې حالت محاسبه ورسره په توره کیږي، نو جګړه ورسره واجب ده، په وړاندې یې د وسلې را اخیستلو اعلان اړین دی او په حکم کې باید ورسره منازعه وشي، ځکه چې هغه په حکومت کې د کفر احکامو ته ورګرځېدلی او باید بېرته ورڅخه راوګرځي، که د کفر له احکامو څخه را ونه ګرځېد، د وسلې را اخیستلو اعلان او له هغه سره جګړه کیږي، ترڅو له حکومت څخه لیرې شي او شرعي احکام بېرته تطبیق او تنفیذ شي. نو د اُم سلمة په حدیث شریف کې راغلي:

(.. قالو: یا رسول الله، أفلا نقاتلهم؟ قال: لا، ما صلوا)

*"..اې د الله رسوله! آیا ورسره جګړه ونه کړو؟ ویې ویل: نه، ترهغې چې لمونځونه کوي."*

په بل روایت کې راځي:

(..ألا نقاتلهم؟ قال: لا، ما صلوا)

*"..آیا ورسره جګړه ونه کړو؟ ویې ویل: نه، ترهغې چې لمونځونه کوي."*

د عوف بن مالک په حدیث کې راغلي دي:

(..قیل: یا رسول الله، أفلا ننابذهم بالسیف؟ فقال: لا، ما أقاموا فیکم الصلوة)

*"پوښتنه وشوه: اې د الله رسوله! آیا د تورې په واسطه یې مخه ونه نیسو؟ نو ویې ویل: نه، تر هغه چې ستاسو ترمنځ لمونځونه دروي."*

او د لمانځه اقامه د اسلام د ټولو احکامو د اقامې معنی لري. ځکه چې د جز له اطلاق څخه کُل مراد دی. د عبادة بن الصامت په حدیث شریف کې راغلي:

( و أن لا ننازع الأمر أهله إلا أن تروا کفراً بواحاً عندکم من الله فیه برهان)

*"... له چارواکو سره به په چارو کې منازعه نه کوو، ترهغه چې ورڅخه بواح (څرګند) کفر ونه وینئ، ترڅو د هغوی په اړه د الله په وړاندې ښکاره دلیل ولرئ."*

په طبراني کې (كفراً صراحاً) *"څرګند کفر"* راغلی دی او د أحمد په روایت کې (..ما لم يأمروك بإثم بواحا) *"ترهغې چې په څرګنده ګناه باندې یې درته امر نه دی کړی."* راغلي دي. دا ټول احادیث د حاکم په وړاندې د وسلې اعلان او له هغه سره د جګړې په اړه دي کله چې بواح کفر ورڅخه څرګند شي، کوم چې زموږ سره د الله ﷻ په وړاندې ښکاره دلیل وي، یعنې کله چې د کفر په احکامو حکومت وکړي.

دا هغه وخت دی چې دار دارالاسلام وي او اسلامي احکام نافذ وي، بیا له حاکم څخه په بواح کفر باندې حکم کول ظاهر شي، څکه د عبادة بن الصامت حدیث شریف وایي: (... إلا أن تروا كفراً بواحاً) *"مګر چې ورڅخه بواح کفر ووینئ."* او د طبراني په روایت کې وایي: (... إلا أن تروا كفراً صراحاً) *"مګر کله چې ورڅخه صراح کفر ووینئ."* یعنې اسلام مطبق او نافذ وي، بیا حاکم په صراح او بواح کفر باندې حکومت وکړي.

اما کله چې دار دار الاسلام نه وي، اسلامي احکام نافذ نه وي، نو د حاکم لیرې کول، کوم چې اوس حکومت کوي د نصرت له لارې تر سره کیږي، څکه رسول ﷺ د اسلامي دولت د قایمولو او د اسلامي احکامو د تطبیق لپاره همدا لاره کارولې وه.

هـ . هغه ټولي او جماعتونه چې نېکو اخلاقو او د ټولنې اصلاح ته د خلکو د دعوت پر بنسټ جوړ شوي دي:

نېکو اخلاقو ته بلنه له هغو ښو کارونو څخه شمېرل کیږي چې الله ﷻ په هغه باندې مسلمانانو ته امر کړی دی، سره د دې چې نېکو اخلاقو ته بلنه د اسلامي احکامو یوې برخې ته بلنه کول دي، په داسې حال کې چې بلنه باید د اسلام ټولو

احکامو ته د عمل په موخه وي، ترڅو پوره اسلام او احکام یې په ژوندانه، دولت او ټولنه کې پلي شي.

نېکو اخلاقو ته په بلنه او دعوت، هغه بلنه ده چې په فرد پورې اړه لري او دا هغو عامو احکامو ته بلنه نه ده، کومه چې په جماعت پورې اړوند په ژوند، دولت او ټولنه کې د اسلام د ټولو برخو په عملي کولو پورې اړه ولري.

نېکو اخلاقو ته دعوت او بلنه هغه څه نه دي چې ټولنه اصلاح کړي او نه هغه څه دي چې په امت کې نهضت راولي، ځکه د ټولنې اصلاح د هغه فکرونو او احساساتو په اصلاح سره راتلای شي، کوم چې په ټولنه کې واکمن دي او هغه نظام اصلاح شي، کوم چې په ټولنه کې پلی کيږي، يعنې د عام حاکم عرف په اصلاح کولو سره ټولنه اصلاح کېدای شي، ځکه چې ټولنه له خلکو، احساساتو او نظامونو څخه جوړه شوې ده او د ټولنې اصلاح د هغه د جوړوونکو عناصرو په اصلاح سره ترسره کېدای شي، يعنې د هغه د خلکو په اصلاح، د هغوی د فکرونو او احساساتو په اصلاح او د هغه د نظام په اصلاح کولو سره چې هلته عملي کيږي.

لکه څنګه چې نېکو اخلاقو ته دعوت کول امت نشي را پاڅولای، ځکه هغه څه چې نهضت ورڅخه منځ ته راځي، هغه فکري ارتفاع ده.

امریکا او اروپا ته په کتنې سره، وينو چې هغوی د نهضت اوترقۍ درلودونکي دي، سره له دې چې د هغوی نهضت صحيح نه دی، ځکه صحيح نهضت د خلکو فکري ارتفاع پر روحي اساس وي او اروپا او امريکا لکه چې په ظاهره د نهضت درلودونکي دي، مګر له اخلاقي پلوه ډېر ټيټ دي، هغه يوازې تش اخلاقي ارزښتونه دي او د دوی ټولنه هماغه د حيواناتو او چارپايانو د ټولنې په څېر ژوند کوي.

نېکو اخلاقو ته دعوت او بلنه د مسلمانانو مهمې بنسټيزې او برخليک ټاکونکې قضيې ته دعوت او بلنه نه ده او نه هم هغه هدف ته درسېدو لاره ده، چې

الله ﷻ په مسلمانانو باندې د هغه لپاره کار واجب ګرځولی، ترڅو هغه موخه ترلاسه شي، هغه د خلافت بیا رامنځ ته کول او د اسلام پلي کول دي په ژوندانه، دولت او ټولنه کې او د هغه رسول د یوه نړیوال رسالت په توګه ټولې نړۍ ته د دعوت او جهاد په واسطه دي.

سره له دې غوره اخلاقو ته بلنه خیر ته د دعوت یوه برخه ده، کومه چې مسلمانانو ته الله ﷻ وربانديې امرکړی دی، مګر لکه څنګه مو چې وویل د اسلامي احکامو یوې برخې ته بلنه ده او تر هغې چې د ټولو اسلامي احکامو د تطبیق لپاره بلنه نه وي، د اسلامي امت مهمه بنسټیزه او برخلیک ټاکونکې قضیه نه وربانديې حل کیږي.

له دغو ټولو څخه دا څرګندیږي چې د مسلمانانو لپاره د مهمې بنسټیزې او برخلیک ټاکونکې قضیې حل او د هغه موخې ترلاسه کول، کومه چې په مسلمانانو باندې د هغې لپاره کوښښ او هڅه کول واجب دي، هغه د خلافت بیا را منځ ته کول او د اسلامي احکامو په ژوند، دولت او ټولنه کې بیا تنفیذ او عملي کېدل دي او د اسلام رسول د یوه نړیوال رسالت په توګه، د دعوت او جهاد له لارې، دا ټول هغه څه دي، چې په مسلمانانو باندې دا واجبوي ترڅو تکتلات او سیاسي حزبونه رامنځ ته کړي. داسې حزبونه چې په اسلامي فکره باندې ولاړ وي، د خلافت د بیا رامنځ ته کېدو او په هغه څه چې الله ﷻ نازل کړي دي، د حکم کولو لپاره سیاسي کار او فعالیت وکړي.

له همدې امله کله چې دغه مهمه او بنسټیزه مسئله او هغه هدف چې په مسلمانانو باندې د هغې د لاس ته راوړلو لپاره عمل واجب دی، درک کړای شو، حزب التحریر رامنځ ته شو.

## د اسلامي خلافت د قایمولو لپاره د حزب التحریر قیام

**۱. د حزب التحریر نشأت:** بې له شکه په یوه ټولنه کې سخت ټکانونه په طبیعي ډول د هغوی د ژوندي پاتې کېدو روح د امت په منځ کې په حرکت راولي کوم چې ورڅخه یو ګډ او ټولیز احساس د امت د خلکو په منځ کې را منځ ته کوي، چې د دغه ټکانونو د سببونو او مسبباتو لپاره د فکري بحث فضا ایجادوي، ترڅو د هغه لپاره د حل لاره پیدا کړي.

په دغه فکري عملیه کې د امت ماضي، حال او مستقبل، د هغه امت د قومونو او ملتونو تاریخ، د هغوی د پاڅون او نهضت وسایل شامليږي او د مقایسه کولو، تحقیق کولو او څېړلو وروسته عقل د هغه لپاره د حل لار پیدا کوي.

د مسلمانانو په باره کې ویلای شو، چې مسلمانان د دغې پېړۍ په اوږدو کې له تر ټولو سختو ټکانونو سره مخ شول او د دوی سلطې او واکمنۍ ته درانه تاوانونه واوښتل، د دوی خاورې یې ټوټې ټوټې کړلې، د هغوی اوسېدونکي یې تیت پرک کړل، اسلامي دولت (خلافت) یې له منځه یوړ، روح یې ووته، اسلام په ژوند، دولت او ټولنه کې له تطبیق څخه لیرې شو او په پایله کې د مسلمانانو دولت یا امپراطوري یې په څو برخو ووېشله، لومړی د کافرانو تر مستقیم حاکمیت لاندې راغلل او وروسته بیا د هغه د مزدورانو، چې د مسلمانانو زامن ؤ، د هغوی تر حاکمیت لاندې راوستل شول او په نتیجه کې د کفر احکام په ټولو اسلامي هېوادونو کې پلي او تطبیق شول.

له دې ټکان څخه وروسته یو بل لوی ټکان او زلزله راغله، چې د هغې په درشل کې کافرو دولتونو او د هغوی مزدورانو د عربي هېوادوونو له حاکمانو سره دسیسه جوړه کړه او د فلسطین په خاوره کې یې د اسرائیلو دولت تاسیس کړ.

دغه دوو ټکانونو د مسلمانانو په روحیه ډېر اغیز وکړ، چې له هغې وروسته هر څوک د دې په هڅه کې شول چې خپل ځان ته نجات ورکړي. په همدې توګه له دغه حالت څخه د خلاصون لپاره ځو اسلامي او غیر اسلامي حرکتونه را منځ ته شول، مګر ویې نه کړای شول چې مسلمانان د دې دوو ټکانونو له ضرر څخه وساتي.

وروسته له دوهم ټکان څخه حزب التحریر رامنځ ته شو، چې هغه مهال یو شمېر مسلمانان د هغوی له بد حالت څخه متاثر شول، راپاڅېدل او د اسلامي امت وضعیت یې اوس او په تېر کې، چې څه ورباندې تېر ؤ او څه اوس ورباندې تیریږي، د هغوی د ټولنو وضعیت، د دغه هرڅه اسباب، په اسلامي نړۍ او نورو هېوادونو کې او د امت اړیکې له حکمرانانو سره او د حکمرانانو اړیکې له امت او نظامونو سره او هغه قوانین چې په امت باندې تطبیق کېدل تر بحث او غور لاندې ونیول، لکه څرنګه یې چې هغه فکرونه او احساسات کوم چې په مسلمانانو او د هغوی په ټولنو باندې واکمن ؤ، تر غور لاندې ونیول.

وروسته له څېړنې او دقیق غور څخه، کله یې چې واقعیت پیدا کړ، هغه یې اسلامي احکامو ته وړاندې کړ او بیا یې هغه حرکتونه وڅېړل چې د مسلمانانو د خلاصون لپاره پیل شوي وو، هغه که د اسلام پر بنسټ او یا هم پر غیر اسلامي بنسټ باندې رامنځ ته شوي ؤ.

له دغه ټولې لویې څېړنې څخه ټاکلې، واضح او بلورینې فکرې ته ورسېدل او پر بنسټ یې حزب التحریر رامنځ ته کړ.

حزب التحریر له دې تحقیق او غور وروسته دې پایلې ته ورسېد، چې د مسلمانانو لپاره مهمه بنسټیزه او برخلیک ټاکونکې موضوع هماغه د اسلامي خلافت بیا جوړول او د اسلام تطبیقول په ټولنه، ژوند او دولت کې او اسلام د یوه نړیوال رسالت په حیث د جهاد او دعوت له لارې د نړۍ هرګوټ ته رسول دي.

نو په دې اساس حزب التحرير خپله موخه د اسلامي ژوند په بيا رامنځ ته کولو او اسلامي دعوت په رسولو کې محدوده کړه او د دې موخې د ترلاسه کولو لپاره يې په امت کې په کار او فعاليت پيل وکړ.

کله چې حزب التحرير له خپلو څېړنو وروسته د مسلمانانو مهمه او بنسټيزه برخليک ټاکونکې قضيه تشخيص کړه، ورپسې يې خپله هغه موخه چې د هغې د ترلاسه کولو لپاره کوښښ کوي هم وټاکله، چې په ترڅ کې يې هغه طريقې ته لاره ومونده کومه چې د دغه موخې د لاسته راوړلو لپاره د هغې پيروي واجب ده، چې هغه د رسول الله ﷺ هغه طريقه ده، کومه چې هغه له خپل بعثت څخه وروسته په مدينه منوره کې د اسلامي دولت تر قايمولو پورې طی کړې ده.

حزب التحرير يو سياسي حزب دی، چې مبدأ يې اسلام، سياست يې عمل، له امت سره، د امت ترمنځ فعاليت کوي، ترڅو ژوند، دولت او ټولنې ته د اسلام بېرته راتګ مهمه بنسټيزه او برخليک ټاکونکې قضيه وګرځوي، هغه د اسلامي خلافت او په هغه څه چې الله سبحانه وتعالی نازل کړي دي، د هغو لوري ته رهبري کړي.

حزب التحرير يو سياسي جوړښت دی، په اسلامي فکره ولاړ دی او کومه روحي کهنوتي، علمي تعليمي او د خيريه اعمالو کتله نه ده. هغه اسلامي فکره چې حزب په هغه باندې ولاړ دی، د هغه په ټولو افرادو کې مجسمه کېږي، کومه چې امت د هغې لور ته رابولي، ترڅو په هغې عمل وکړي او له حزب سره يوځای يې په غاړه واخلي او په ژوندانه دولت او ټولنه کې يې تطبيق کړي او همدغه فکره د حزب روح جوړوي، هغه د حزب هسته او د ژوند راز دی او همدغه فکره يوازينۍ اړيکه ده، چې د حزب د افرادو تر منځ اړيکي ټينګولای شي.

د حزب التحرير موخه د اسلامي دعوت په مخ بيول دي، ترڅو په اسلامي خاورو کې د دغه نننۍ فاسدې ټولنې واقعيت بدل او په اسلامي ټولنه يې واړوي، او دا په اسلامي افکارو باندې د شته غير اسلامي افکارو بدلول دي ، ترڅو له خلکو سره د عام فکر

او نظر او راسخو مفاهيمو په توګه جوړ او هغوی د نومووړو افکارو له غوښتنې سره سم د هغو تطبيق ته وهڅوي، همداراز د شته غير اسلامي احساساتو بدلون په اسلامي احساساتو باندې، کوم چې دوی په هغه څه رضا کيږي، په کومو چې الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ راضي کيږي او په هغه څه سره په قهر او غضب کيږي په کومو چې الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ راضي کيږي، همدارنګه د اسلام د احکامو او معالجاتو سره سم د هغه غير اسلامي اړيکو بدلون کوم چې نن د دغه اسلامي خاورو د اوسېدونکو ترمنځ شتون لري.

دا هغه اعمال دي چې حزب يې د سياسي اعمالو په توګه سرته رسوي، يعنې حزب د دغه شرعي احکامو او معالجاتو په واسطه د خلکو د چارو سرپرستي کوي؛ ځکه سياست د اسلامي احکامو او معالجاتو په واسطه د خلکو د چارو سنبالول دي.

د دغه سياسي اعمالو څخه کوم چې حزب يې سرته رسوي تر ټولو ښکاره عمل؛ په اسلامي ثقافت باندې د امت تثقيف کول دي، ترڅو له اسلام سره ويلې شي او له فاسدو افکارو، غلطو مفاهيمو او د کفر له افکارو او نظرياتو څخه پاک کړل شي.

لکه څنګه چې په دغه سياسي اعمالو کې کوم چې حزب يې سرته رسوي، ښکاره برخه فکري منازعه ده، چې د کفر له افکارو او نظامونو سره ترسره کيږي، همداراز د غلطو افکارو، فاسدو عقايدو، غلطو مفاهيمو د فساد، غلطۍ په څرګندولو او د هغې اړوند اسلامي احکامو په بيانولو سره ترسره کيږي.

همداراز د حزب له نورو څرګندو سياسي اعمالو څخه يو سياسي مبارزه ده، کومه چې د هغو کفري دولتونو په وړاندې ترسره کيږي، چې په اسلامي خاورو باندې اغيز او نفوذ لري، ترڅو اسلامي امت د هغو له تسلط او نفوذ څخه خلاص او د هغوی فکري، ثقافتي، سياسي او نظامي ريښې او نظامونه له ټولو اسلامي خاورو څخه راوباسي.

همداراز د اسلامي نړۍ له چارواکو، په ځانګړې توګه د عربي نړۍ له چارواکو سره مبارزه ده، ترڅو له امت سره د هغوی خیانتونه او ظلم بربنډ، له هغوی سره محاسبه او د هغوی بدلون، ځکه دوی په خپلو وجایبو کې د امت په وړاندې د هغوی د چارو په سرپرستۍ کې تقصیر کړی او دا مبارزه له اسلامي احکامو سره د هغوی د مخالفت او د کفر د احکامو د تطبیق له امله ترسره کیږي.

نو د حزب کړنې ټولې سیاسي دي، د هغه عمل د مدرسې په څېر تعلیمي نه دی، همداراز یې کړنې وعظ او ارشاد نه دی، بلکې عمل یې سیاسي دی، ترڅو اسلامي احکام، معالجات او افکار د عمل لپاره ټولنې ته وړاندې کړي او د دولت، ژوند او ټولنې په واقعیت کې یې پلي کړي.

نو حزب اسلام داسې حمل کوي، ترڅو پلی شي او اسلامي عقیده د دولت، دستور او ټولو نورو قوانینو اصل وګرځوي.

۲. د حزب التحریر موخه: د اسلامي ژوند څخه پیروي او د اسلامي دعوت لېږدول دي، یعنې د مسلمانانو د برخلیک ټاکونکې قضیې حل کول دي. د اسلامي ژوندانه بیا رامنځ ته کېدل یعنې د مسلمانانو راګرځېدل یوه اسلامي ژوند ته، ترڅو هغه د اسلام دار وي او د هغه ټولنه به یوه اسلامي ټولنه وي او په هغه باندې به اسلامي افکار او احساسات واکمن وي، اسلامي نظامونه او احکام به پکې تطبیق کیږي، په داسې شان سره چې د ژوند ټولې چارې به د شرعي احکامو په واسطه پر مخ وړل کیږي او په هغه کې به لیدلوری یوازې حلال او حرام وي، دا ټول به د اسلامي دولت ترسیوري لاندې سر ته رسیږي، یعنې اسلامي خلافت، کوم چې مسلمانان د هغه لپاره یو خلیفه په سمع او طاعت باندې ټاکي، ترڅو په دوی باندې د الله ﷻ د کتاب او د هغه د رسول ﷺ د سنتو له مخې حکومت وکړي او د اسلام رسالت نړۍ ته د دعوت او جهاد په واسطه ولیږدوي.

د حزب موخه په صحيح نهضت باندې د اسلامي امت راپاڅول دي، کوم چې د اسلامي عقيدې پر بنسټ د مستنير فکر په رڼا کې رامنځ ته کيږي، حزب کوښښ کوي ترڅو امت خپل پخواني عزت او لويې ته ورستون کړي، په داسې شان سره چې د چارو واګې به له دولتونو، امتونو او ولسونو څخه اخيستل کيږي او پرځای به يې د نړۍ لومړۍ دولت راځي، لکه څنګه چې پخوا يې شتون درلود، چې د اسلامي احکامو پر بنسټ به سياست او د چارو سرپرستي کوي. لکه څنګه چې موخه يې د اسلامي رسالت رسول نړۍ ته دي او د کفر د نظامونو، افکارو په وړاندې مبارزې ته د امت لارښونه ده، ، ترڅو اسلام په ځمکه کې خور شي.

**۳**. د حزب التحرير ثقافت: حزب التحرير يوازې په دې باندې بسنه ونه کړه، چې يوازې په اجمالي توګه په اسلامي فکره باندې راپاڅي، بلکې د امت د واقعيت او هغه څه چې ورته رسېدلي، د ټولنې واقعيت په اسلامي خاورو کې او د رسول ﷺ، راشدينو خلفاؤ او د هغوی د تابعينو د عصرونو واقعيت له څېړنې او مطالعې څخه وروسته، د هغه ﷺ سيرت، د هغه دعوت د لېږد کيفيت ته، له هغه وخته چې رسالت پيل او بيا اسلامي دولت په مدينه کې تاسيس شو، رجوع شوې، بيا د هغه سيرت په مدينه منوره کې څېړل شوی دی. همداراز د الله ﷻ کتاب، د هغه د رسول ﷺ سنتو او هغه څه چې د صحابه په اجماع او قياس سره روښانه شوي مراجعه کړې ده او د صحابه ؤ، تابعينو او مجتهدو امامانو اقوالو ته په روښانه توګه کتنه شوې؛ وروسته له دغو ټولو پړاوونو څخه حزب التحرير ځينې افکار، آراء او د فکرې اړوند تفصيلي اسلامي احکام د تنفيذ له طريقې سره يوځای تبني کړي، چې هغه افکار، آراء او اسلامي احکام دي، نه بل څه، په هغو کې هېڅ غير اسلامي څه نشته، له هېڅ ډول غير اسلامي مفاهيمو څخه اغيزمن نه دي، بلکې يوازې اسلامي دي، چې د اسلام له اصولو پرته په بل څه نه دي ولاړ او د دليل د قوت پر بنسټ باندې د حزب د اجتهاد او فهم سره سم تبني شوي دي، نو دا صحيح شمېرل کيږي چې د غلطۍ احتمال هم لري.

همداراز حزب ټول هغه افکار، آراء او احکام تبني کړي چې د یوه حزب لپاره لازم دي، ځکه یو سیاسي حزب ته لازم دي چې د فکرې او طریقې په تفصیل کې تبني وکړي، دا تبني باید په هغه اندازه وي چې د اسلامي ژوند د بېرته پیلولو، د دعوت د لېږد، اسلامي خلافت د قایمولو، د خلیفه د ټاکلو لپاره بسنه وکړي، تبني کړي، په داسې شان سره چې دا افکار، احکام او آراء باید دا ورسوي چې اسلام د ژوند هغه مبداء ده چې عقیده او نظام لري، په دغه ژوند کې د انسان ټولې ستونزې معالجه کوي، په داسې شان سره چې له حزب څخه یو ټاکلی حزب جوړوي او دا افکار، آراء او احکام هغه اړیکي دي چې د افرادو ترمنځ یې تړاو رامنځ ته کوي، همدا به د حزب د کیان، افکارو وحدت او یووالی ساتي او حزب به امت په دغو افکارو، آراء او احکامو باندې راټولوي، ترڅو هغه صحیح وګڼي او امت یې هم د ځان لپاره افکار، آراء او احکام وبولي، چې په هغو به عمل کوي، له حزب سره یو ځای به یې لېږدوي ترڅو د ژوند، دولت او ټولنې په منځ کې یې ایجاد کړي.

دا هغه څه دي چې حزب پکې بریالی شوی دی، ترڅو افکار، آراء او احکام معروف کړي، چې هغه په اسلامي هېوادونو کې د حزب افکار دي، په ځانګړې توګه په عربي نړۍ او په عام ډول په ټوله نړۍ کې.

حزب د دغه تبني شوو احکامو، افکارو او آراؤ مجموعه په خپلو کتابونو او ډېرو خپرونو کې صادره کړې تر څو تر خلکو ورسیږي.

د بدلون لپاره د حزب التحریر منهج او طریقه: هغه ده چې حزب یې د خپل سیر او تګ، د دعوت د لېږد د کیفیت او د اسلامي خلافت د قایمولو لپاره کاروي، ترڅو حکم په هغه څه چې الله ﷻ نازل کړي دي ترسره شي او اسلام د یوه رسالت په ډول ټولې نړۍ ته ورسوي:

په دې تېولو لاروچارو کې حزب د شرعي حکم او د رسول الله ﷺ له طریقې څخه پیروي وکړه، ترڅو د دې طریقې په واسطه دولت رامنځ ته کړي او د محمد ﷺ له طریقې څخه یې د احکامو په وضع کولو او د دعوت په مخ بیولو کې ګټه واخیسته.
ځکه چې الله ﷻ په شرعي احکامو عمل، په رسول الله ﷺ پسې اقتدا او په هغه څه عمل کول، کوم چې الله ﷻ نازل کړي دي، په مسلمانانو باندې واجب ګرځولي دي.
الله ﷻ فرمایلي دي:

لَّقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ ٱللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُوا۟ ٱللَّهَ وَٱلْيَوْمَ ٱلْـَٔاخِرَ وَذَكَرَ ٱللَّهَ كَثِيرًا ﴿٢١﴾

*"د تاسې لپاره په رسول الله (پسې اقتدا کولو کې خیر او سعادت دی) او هغه غوره نمونه دی، د هغه چا لپاره چې د قیامت په ورځ د الله ثواب ته زیاته هیله ولري او د الله ذکر زیات وکړي."* **الاحزاب، ۲۱**

او ویلي یې دي:

قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ ٱللَّهَ فَٱتَّبِعُونِى يُحْبِبْكُمُ ٱللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ ۗ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣١﴾

*"ووایه ای پیغمبره که الله دوست لري د هغه پیرو واوسی چې الله تاسې دوست ولري او ستاسو ګناهونه به وبښي او الله بښونکی او مهربان دی."* **آل عمران، ۳۱**

او ویلي یې دي:

... وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَىٰكُمْ عَنْهُ فَٱنتَهُوا۟ ۚ ...

*"او هغه څه چې الله د خپل استازي په واسطه تاسې ته د هغو امر کوي هغه عملي کړئ او له هغه څه څخه مو چې منع کوي له هغه څخه ځان وساتئ"* الحشر، ۷

او نور آیتونه هم شته چې هغه موږ ته په رسول الله ﷺ پسې د اقتدا کولو وجوب څرګندوي او د هغه څه وجوب ثابتوي چې رسول الله ﷺ ویلي او په هغو کې له ده څخه پیروي کول واجب دي.

سره له دې حزب دا درک کوي چې پیغمبر ﷺ به کافران دعوت کول، اما نن ورځ موږ مسلمانانو ته دعوت کوو، ترڅو هغوی په اسلامي حکمونو باندې پابند شي او له موږ سره د هغه څه په عملي کولو کې چې الله ﷻ نازل کړي دي مرسته وکړي. مګر موږ دا هم درک کوو چې په ډېر تاسف نن ورځ اسلامي هېوادونه د اسلام دار نه شمېرل کیږي او هغه ټولنه چې مسلمانان په هغې کې ژوند کوي غیر اسلامي ټولنه ده.

نو د حزب کړنې په دې باندې متمرکزې دي، چې اسلامي هېوادونه په اسلامي دار باندې بدل شي او د هغه ټولنه هم اسلامي شي، لکه چې رسول الله ﷺ د مکې او نورو سیمو د بدلون لپاره په اسلامي دار باندې او د جهالت د ټولنې د تبدیلولو لپاره په اسلامي ټولنه باندې فعالیت کولو.

نو ټولو پورتنیو مسائلو ته په پام سره حزب التحریر د خپلې تګلارې او د دعوت د څرنګوالي لپاره لاندې مادې ټاکلې دي:

۱. حزب د الله ﷻ دې قول ته د ځواب ویلو په موخه دعوت په غاړه اخلي، چې فرمايي:

وَلۡتَكُن مِّنكُمۡ أُمَّةٞ يَدۡعُونَ إِلَى ٱلۡخَيۡرِ وَيَأۡمُرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَيَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ﴿١٠٤﴾

*"باید ستاسو په منځ کې داسې یوه ډله وي چې هغه د خیر دین (اسلام) ته دعوت او په معروف باندې امر او له منکر څخه نهی وکړي."* آل عمران، ۱۰۴

همدارنګه د هغه شرعي حکومت د نافذولو لپاره کار او هڅه کوي چې هغه په ژوند، دولت او ټولنه کې د اسلامي احکامو عملي کول، لېږد او پلي کول ترسره کړي، ځکه دا په مسلمانانو باندې واجب دي.

حزب د دعوت طریقه یوازې د واجبو د ادا کولو لپاره په غاړه نه ده اخیستې، بلکې د خلافت د رامنځ ته کولو او په هغه څه د حکم کولو لپاره چې الله ﷻ نازل کړي دي په دعوت لاس پورې کړی دی.

۲. حزب شرعي حکم د ټولو تصرفاتو او اعمالو لپاره بنسټ ګرځولی دی او هغه یې د یوې قاعدې په توګه د حکم د صادرولو لپاره چې په مبدأګانو، وقایعو او حوادثو باندې صادریږي منلی دی او د هغه پابند دی او حلال او حرام یې د ټولو اعمالو او تصرفاتو لپاره مقیاس او معیار ګڼلي دي او په دې باندې پوره ایمان لري چې سیادت به د اسلام وي نه د کومې بلې ایډیالوژۍ.

نو په دې اساس حزب جرائت، صراحت او سپین ویل د ځان لپاره ځانګړې لازمه بللې ده او د ټولو هغو په وړاندې چې د اسلام سره تناقض ولري، هغوی ته چلنج ورکوي او مقابله ورسره کوي او دا متناقض څیزونه که په مبدأګانو، دینونو، عقایدو، افکارو، مفاهیمو، نظامونو، عادتونو او تقالیدو کې وي، له هغو سره مبارزه کوي. سره له دې چې د هغوی د اهل له نارضایتۍ سره مخ شي او سره له دې چې د دې په وړاندې مبارزې ته را پاڅي یعنې، حزب له هېچا سره له اسلام څخه نه تیریږي او معامله یې باید د اسلام سره موافقه وي.

هغه کسانو ته چې د غیر اسلامي دینونو، عقایدو، مبدأ ګانو، افکارو او دعوتونو پیروي کوي، داسې نه ویل کیږي چې په هماغه باندې پاتې شئ، بلکې ورڅخه غواړو، چې په هغه څه چې ایمان لرئ او د هغه پیروي کوئ، هغه ټول پریږدئ، ځکه هغه کفر او

ګمراهي ده او باید تاسې اسلام ته رجوع وکړئ، ځکه یوازې هغه صحیح او سالم دین دی. نو په دې اساس حزب ټول ادیان پرته له اسلام څخه د یهودیت، نصرانیت او ټولو غیر اسلامي مبادي ګانو لکه کمونستي، اشتراکي او پانګوالۍ په شمول د کفر دینونه او مبدأګانې بولي. لکه څرنګه چې یهود او نصارا د کافرانو له ډلې څخه دي او هر هغه څوک چې په کمونستي، پانګوالۍ او اشتراکي مبدأګانو باندې ایمان راوړي، کافران دي.

حزب هغه دعوتونه چې د قوم پالنې، وطن پالنې، سمت پالنې، نژاد پالنې او مذهب پالنې لپاره ترسره کیږي، هغه څه ګڼي چې اسلام حرام ګرځولي دي.

همدارنګه د هغو ټولو حزبونو رامنځ ته کول په مسلمانانو باندې حرام دي چې د کمونیزم، کپیټالیزم، سوسیالیزم، سکولریزم او ماسونیزم لپاره خلک رابولي او یا هم د قوم پالنې، نژاد پالنې، وطن پالنې، مذهب پالنې او یا غیر اسلامي ادیانو ته دعوت کوي او یا دا چې مسلمانان د دارنګه احزابو غړیتوب لاسته راوړي، دا ټول د مسلمانانو لپاره حرام دي.

همدارنګه حزب واکمنو ته چاپلوسي او ورسره مجامله نه کوي او له هغوی سره په دې بهانه هېڅکله دوستي نه کوي چې د دعوت په لېږد کې به کمک او مرسته ورسره وکړي، ځکه دا شرعا جواز نه لري، یعنې، د حرامو له لارې واجبو ته ورسېږي او هغه ادا کړي، بلکې حزب له حکامو سره محاسبه کوي او په تنده لهجه په هغوی باندې نیوکې کوي او هغه نظامونه چې دوی یې پلي کوي، د کفر نظامونه بولي او په هغه باندې واجب بولي ترڅو هغوی ګوښه کړای شي او پر ځای یې اسلامي احکام واکمن کړي او هغوی ظالمان او فاسقان بولي، ځکه د کفر په احکامو باندې حکومت کوي او هر هغه څوک چې د اسلام له ښه والي او صلاحیت او د هغه د حکمونو له ښه والي صلاحیت څخه منکر شي کافر یې بولي.

همداراز حزب نه غواړي له هغوی سره په واکمنۍ کې ځان شریک کړي، ځکه د مشارکت عمل د کفر حکم لري او دا د مسلمانانو لپاره حرام دي او همدارنګه حزب دا نه غواړي چې له هغوی سره په اقتصادي، تعلیمي، ټولنیز او اخلاقي اصلاحاتو کې مرسته وکړي، ځکه له هغوی سره مرسته کول د ظالمانو لا محکمول دي او د هغوی د نظامونو د عمر زیاتول دي، مګر حزب د هغوی د راپرځولو لپاره د هغوی او د هغو کفري نظامونو د راپرځولو لپاره چې په مسلمانانو یې عملي کوي، کار او فعالیت کوي، ترڅو اسلامي احکام پلي او عملي کړای شي.

۳. حزب د اسلام د بشپړ پلي کولو لپاره، چې د دین هغه ټول حکمونه لکه معاملات، عبادات، اخلاق او یا نظامونه باید پلي شي، کار او فعالیت کوي، ترڅو د الله ﷻ دا قول نافذ کړل شي:

وَأَنِ ٱحۡكُم بَيۡنَهُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ ...

*"د دوی په منځ کې په هغه څه چې الله نازل کړي دي امر او حکم وکړه."* المائده، ۴۹

د الله ﷻ دا قول:

... وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَىٰكُمۡ عَنۡهُ فَٱنتَهُواْۚ ...

*"هغه څه چې پیغمبر تاسو ته درکړي او تاسو ته یې په هغه امر کړی په هغه عمل وکړئ او له هغه څه نه یې چې منع کړئ، ورڅخه ځان وژغورئ."* الحشر، ۷

د (ما) لفظ په دواړو ایتونو کې راغلی دی او له عمومي صیغو څخه دی او ټول هغه احکام پکې شاملیږي چې الله ﷻ نازل کړي دي او پیغمبر ﷺ راوړي دي، ځکه د ټولو هغو احکامو پلي کول چې الله ﷻ نازل کړي دي او د هغه څه عملي کول چې رسول الله ﷺ راوړي دي واجب دي او د دغه حکم او هغه حکم او د دغه واجبو او هغه واجبو او د دغه حرامو او هغه حرامو هیڅ توپیر او فرق نشته، د ټولو پلي کول واجب

دي او دا جواز نلري چې ځينې له هغو څخه پلي شي او ځينې نور يې پرېښودل شي، لکه څرنګه چې په تدريجي توګه د هغه پلي کول جواز نه لري، ځکه موږ په ټولو هغو باندې ملزم يو، چې واجب دي، ترڅو هغه بشپړ او په يوه ځل ټول پلي کړو.

او هر وخت چې وضع او شرايط د اسلام سره متناقضه وي، دا جواز نه لري چې اسلام په داسې توګه تفسير او تاويل شي چې د هغه وخت له وضعې او شرايطو سره يو شان شي، ځکه دا ډول عمل په اصل کې د اسلام تحريف او بدلول دي، بلکې دا واجبه ده چې وضع او شرايط داسې بدلون و مومي چې له اسلام او شرعي احکامو سره برابره شي.

۴. د پيغمبر ﷺ د طريقې پر بنسټ چې هغه ﷺ څرنګه د مبعوث کېدلو څخه د دولت تر جوړولو پورې او د دارکفر د بدلون په داراسلام باندې او د جاهليت د ټولنې تغير په اسلامي ټولنو باندې له کومې طريقې څخه کار اخستی، حزب هم خپله طريقه د هغه سره په برابرۍ، خپل کار په دريو مرحلو وېشلی دی:

لومړی. د تعليم او تثقيف مرحله: ترڅو داسې شخصيتونه تربيه کړي، چې هغوی د حزب په فکره او طريقه باندې مؤمن وي او په ترڅ کې يې حزبي کتله رامنځ ته شي.

دويم. تفاعل يعنې له امت سره د کار او فعاليت مرحله: ترڅو امت اسلام په غاړه واخلي او اسلام د خپلې برخليک ټاکونکې قضيې په توګه قبول کړي او د هغه د پلي کولو لپاره په دولت، ژوند او ټولنه کې کار وکړي.

دريم. د حکومت نيولو مرحله: ترڅو اسلام په پوره، عامه او شامله توګه پلی شي او د رسالت په توګه ټولې نړۍ ته ورسول شي.

اوله مرحله، بنسټ جوړوونکې مرحله ده، چې په هغه کې د حزب هسته رامنځ ته شوه او وروسته له دې چې فکرې او طريقې ته لاره پيدا شوه د هغه اوله حلقه جوړه شوه او له هماغه ځايه يې د امت له خلکو سره په ليدلو کتلو پيل وکړ او فکره او طريقه يې هغوی ته په فردي توګه وړاندې کوله.

نو چا به چې مثبت ځواب ورکړ، د هغه لپاره به يې د حلقاتو متمرکز او عميق درسونه تنظيمول، ترڅو له هغو اسلامي افکارو او حکمونو سره، کوم چې حزب ورته ټاکلي دي ويلي شي او په اسلامي شخصيتونو باندې بدل شي او له هغه څخه داسې يو اسلامي عقليت جوړ شي، چې ټولو افکارو او پيښنو ته د اسلام له عينکو وګوري او په هغه باندې د اسلامي معيارونو سره سم چې هغه حلال او حرام دي حکم صادر کړي او د داسې يوه اسلامي نفسيت څښتن شي، چې هر ځای ته چې اسلام ځي دی هم ولاړ شي او له هغه څه څخه چې الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ راضي کيږي دی هم راضي شي او په هغه څه چې الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ په قهر کيږي، دی هم په قهر شي او وروسته له دې چې اسلام د ده په وجود باندې ژور اغيز واچوي، د دعوت دنده په غاړه واخلي او خلکو ته دعوت وکړي، ځکه هغه درسونه چې په حلقاتو کې تدريس کيږي، عملي او اغيزمن درسونه دي، چې په ورځني ژوند کې بايد پر هغو باندې عمل وشي او خلکو ته ورسول شي.

هر کله چې شخص دې سطحې ته ورسيږي، نو خپل قبوليت لازم بولي او د حزب د کتلې برخه ګرځي. لکه څرنګه چې رسول ﷺ د دعوت په لومړۍ مرحله کې چې درې کاله يې دوام وکړ، خلک په فردي توګه دعوت کول او هغه رسالت چې الله ﷻ ده ته ورکړی و، هغه ته به يې وړاندې کاوه او هرچا به يې چې دعوت قبول کړ او د ده په رسالت به يې ايمان راووړ، هغه به يې د همدغه دين په اساس په خپله کتله کې په پټه توګه شاملاوه او هغه ته به يې اسلامي رسالت او د قران شريف زده کړه ورکوله، ترڅو په اسلام کې په بشپړه توګه داخل شي او له هغه چا سره چې، په ده باندې به يې ايمان راوړی ؤ، په پټه ليدنه کتنه کوله او هغوی به يې په نامعلومو ځايونو کې روزل او تعليم به يې ورکاوه او په پټه توګه به يې خپل عبادات ترسره کول، ترڅو چې د اسلام نوم په مکه کې تيت شو او خلکو به د هغه په باره کې بحثونه کول او بالاخره ټولی ټولی په اسلام کې داخل شول.

په دې تاسيسي مرحله کې د حزب عمل په ثقافتي برخه پورې منحصر ؤ او ټول پام به يې دې ته ؤ، چې د هغه جسم جوړ شي او خلک يې زيات شي او خپلو افرادو ته يې هغه ثقافت چې خپله يې تبني کړی ؤ، په ژوره او ترکيزي توګه بيانولو، ترهغې چې يوه حزبي کتله له هغو ځوانانو څخه چې په اسلام کې ذوب شوي ؤ او د حزب افکار يې تبني کړي ؤ، په تفاعل پيل وکړ او هغه يې خلکو ته ورسول.

وروسته له دې، چې حزب خپله کتله جوړه کړه او ټولنې حزب حس کړ، د هغوی فکره او هغه څه چې د هغه لپاره دعوت کوي هغه يې وپيژندل، نو دوهمې مرحلې ته يې انتقال وکړ.

دوهمه مرحله، دا له امت سره د تفاعل او کار مرحله ده، ترڅو هغوی اسلام په غاړه واخلي او خپله مهمه بنستيزه او برخليک ټاکونکې قضيه يې وبولي. دا د هغه عام پوهاوي او عامه نظر په رامنځ ته کولو سره ترسره کيږي، ترڅو امت هغه اسلامي افکار چې حزب ټاکلي دي و پيژني او د هغه په اړه خپل نظر څرګند کړي، امت يې خپل افکار وګرځوي، په هغو عمل وکړي او په ورځني ژوند کې يې پلي کړي او د خلافت په رامنځ ته کولو او د اسلامي ژوند او دعوت په رسولو کې ټولې نړۍ ته له حزب سره يوځای حرکت وکړي.

په دې مرحله کې حزب د مجموع خلکو په مخاطب کولو سره، په ټوليز ډول انتقال وکړ او په دې مرحله کې لاندينې کارونه سر ته رسوي:

۱. متمرکز ثقافت، د خلکو لپاره په حلقاتو کې متمرکز ثقافت د دې لپاره چې د حزب جسم وده وکړي او خلک يې ډېر شي، د اسلامي شخصيتونو روزل، ترڅو د دې وړتيا ولري چې دعوت پر مخ بوځي او فکري او سياسي مبارزه وکړي.

۲. ټوليز ثقافت، د امت د مجموعو او پوړونو لپاره، يعنې هغه اسلامي احکام او افکار چې حزب ټاکلي دي د درسونو په وسيله په جوماتونو، مجلسونو، سيمينارونو او په هغو ځايونو کې چې عام خلک راغونډيږي، يا هم د هغه جريدو، کتابونو او خپرونو په

واسطه خلکو ته عامه پوهاوی ورکړي، ترڅو په هغوی باندې اغیز وکړي او په اسلام کې یې ذوب کړي او د امت په منځ کې یو ولسي بنسټ رامنځ ته شي، ترڅو خلک د خلافت رامنځ ته کولو او په هغه څه د حکم کولو په لوري چې الله ﷻ نازل کړي دي رهبري کړای شي.

**۳.** فکري مبارزه، د کفر د عقایدو، نظامونو او افکارو پر ضد، د فاسدو عقیدو او خطا فکرونو او غلطو مفاهیمو پر ضد، د هغه د ناسموالي، خطاوالي او له اسلام سره د تناقض په بیانولو لاس پورې کوي، ترڅو امت د هغه له بدو اغیزو څخه خلاص شي.

**۴.** سیاسي مبارزه، چې په لاندې کارونو سره ترسره کېدای شي:

- له هغه کفري او استعماري دولتونو سره مقابله کول، چې په اسلامي سیمو باندې واکمني کوي، د استعمار له ټولو ډولونو او اشکالو سره مقابله کول، لکه سیاسي، فکري، اقتصادي، نظامي او د هغوی د نقشو او دسیسو رسوا کول او شنډول، ترڅو امت د هغوی له بند، قید او هر رنګ نفوذ څخه خلاص شي.
- په اسلامي او عربي هېوادونو کې د واکمنو ټکول، د هغوی د حالت بربنډول او له هغوی سره حساب کول او په هغوی باندې نیوکه کول، د امت د حقونو د تلف کېدو، د هغوی د تقصیر، د امت په کارونو کې د بې اعتنایۍ او له اسلامي احکامو سره د مخالفت په صورت کې یا هم د هغه نظام له منځه وړل، چې د کفر د احکامو او نظامونو پر اساس باندې ولاړ وي او پر ځای یې د اسلامي حکومت رامنځ تشه کول دي.

**۵.** د امت د مصلحتونو تبني کول، د اسلام له احکامو سره سم د امت د مصالحو او نورو چارو سرپرستي کول.

حزب په دغو ټولو اعمالو کې د پیغمبر ﷺ له اعمالو څخه پیروي کوي، د خدای پاک د دغه قول له نازلېدو وروسته پیغمبر ﷺ همداسې اعمال سرته ورسول:

فَٱصۡدَعۡ بِمَا تُؤۡمَرُ وَأَعۡرِضۡ عَنِ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ﴿٩٤﴾

***"هغه رسالت چې په هغه باندې مامور شوی یې په ښکاره بیان کړه او له مشرکانو څخه مخ واړوه." الحجر، ۹۴***

لکه څرنګه چې رسول الله ﷺ د دې مبارک آیت له نازلېدو وروسته خپل رسالت ښکاره کړ او قریش یې د صفا غونډۍ ته راوبلل، ترڅو هغوی په دې باندې پوه کړي چې دی د الله ﷻ له خوا پیغمبر رالېږل شوی دی او له دوی څخه یې غوښتنه وکړه، چې په ده باندې ایمان راوړي او له دې څخه وروسته یې خپل دعوت په افرادو سربېره جماعتونو ته هم کاوه او د قریشو په خدایانو، عقایدو او افکارو باندې یې اعتراض کاوه او د دوی غلطۍ، فساد او خطاګانې یې ورته بیانولې او د هغوی عیبونه یې ښکاره کول او د دوی په ټولو عقایدو او افکارو باندې یې فکري حمله کوله. په ده ﷺ باندې پرلپسې آیتونه را نازلېدل، هغه آیتونه چې د دوی د بدو اعمالو په ضد باندې وو، لکه د سود خوړل، د نجونو ژوندي خښول، په تله او وزن کې خیانت او د زنا د بد عمل ارتکاب او هم د قریشو د سردارانو او لویانو په ضد آیتونه نازل شول او دوی او د دوی پلرونه یې جاهل او کم عقل وبلل او د دوی دسیسې چې د رسول الله ﷺ د دعوت او اصحابو په ضد به یې جوړولې شنډې او ښکاره کولې.

حزب د خپلو افکارو په حمل کولو کې، د نورو فکرونو سره په ټکر کې، له سیاسي او کفري دولتونو او حزبونو سره په مبارزه کې او د هغه په حکامو باندې په نیوکه کولو کې صریحه لهجه، ښکاره بیان او مبارزه غوښتونکی دی او له هر ډول جوړ جاړي، مداهنت یا غوړه مالۍ، مجاملې او چاپلوسۍ سره مخالف دی، نو مسالمه ورسره کوم اغیز نه لري، له همدې امله هرڅوک چې د اسلام او د هغه د حکمونو مخالف وي له هغوی سره مبارزه کوي او په همدې خاطر ؤ، چې حزب ته ډېر سیاسي

حزبونه او حکام په قهر شول او د دې زمینه به یې رامنځ ته کوله، ترڅو ځینې وخت خلک په حزب باندې نیوکه وکړي.
اما په دې وخت کې بیا هم حزب په رسول الله ﷺ پسې اقتدا کوله، چې رسول الله ﷺ اسلامي رسالت ټولې نړۍ ته راوړی او د حق په توګه یې د هغه لپاره دعوت کاوه او په هغه یې پوره ایمان درلود او په کفر او د هغه په افکارو یې په ټوله نړۍ کې اعتراض وکړ، د سپینو او تورو خلکو په وړاندې یې جنګ اعلان کړ، پرته له دې چې عادات، تقالید، ادیان، عقاید، حکام او ښارونو ته یې پام وکړي او پر هغو څه حساب وکړي او پرته له اسلامي رسالت څخه یې بل هیڅ ته توجه نه کوله او د قریشو په وړاندې یې پرته له کومې وسلې او قوې او پر خپل رسالت باندې له قوي ایمان څخه په ګټه اخیستنې بل څه نه درلودل، یو شړل شوی کس ؤ چې نه تجهیزات ورسره ؤ او نه سرچینې، مګر بیا هم ده د قریشو په خدایانو، عقایدو او افکارو باندې اعتراض کولو، عیبونه یې بیانول او هغوی یې کم عقل او جاهل بلل.
سره له دې چې حزب د خپل حرکت په مسیر کې صریح الهجه، ښکاره بیانه، بربنډوونکی او مبارزه غوښتونکی دی مګر بیا یې هم په سیاسي کار اکتفا کړې ده او د مادي اسبابو په استعمالولو یې د حکامو پرضد او یا د هغه چا پرضد چې د دعوت لپاره خنډ ګرځي او یا هم د هغه چا لپاره چې ضرر ورته رسوي، لاس نه دی پورې کړی، چې دغه کار هم د رسول الله ﷺ په اقتدا باندې دلالت کوي. لکه څرنګه چې رسول الله ﷺ په مکه کې یوازې په دعوت باندې اکتفا کړې وه او ترهغه یې چې مدینې ته هجرت نه ؤ کړی، په هیڅ مادي عمل باندې یې لاس نه و پورې کړی او کله چې خلکو ده ته د عقبې د دوهم تړون وړاندیز وکړ، ترڅو دوی ته اجازه ورکړي، چې د منا له خلکو سره په توره جهاد شروع کړي، دوی ته یې داسې ځواب ورکړ:

**(لم نؤمر بذلك بعد)**

*"تراوسه په دې کار باندې نه يم مامور شوی."* الطبقات الكبرى.

الله ﷻ هم له ده څخه غوښتي وو، چې د ضرر په وړاندې صبر وکړي، لکه چې نورو پيغمبرانو هم صبر کړی وو او ده ته يې ويلي ؤ:

وَلَقَدۡ كُذِّبَتۡ رُسُلٌ مِّن قَبۡلِكَ فَصَبَرُواْ عَلَىٰ مَا كُذِّبُواْ وَأُوذُواْ حَتَّىٰٓ أَتَىٰهُمۡ نَصۡرُنَاۚ ...

*"بې له شکه له تا څخه د مخه پيغمبران هم د خلکو له تکذيب سره مخ شول، مګر هغوی د تکذيب او ضرر په وړاندې صبر وکړ، ترڅو زما مرسته هغه ته ورسېده."*

الانعام، ۳۴

## طلب النصرة

کله چې ټولنه او امت د حزب په وړاندې له انجماد او سختۍ څخه کار واخیست، حزب د محمد ﷺ د سیرت په تکراري څېړنه او ځیرنه باندې پیل وکړ، ترڅو له هغه څخه لارښوونه ومومي، چې له دې امله په لاندې لارښوونو برلاسی شو:

١. کله چې ابوطالب وفات شو، د مکې ټولنه د پیغمبر ﷺ لپاره تړلې او منجمده وه او د ابوطالب په وفات سره د قریشو ضررونه د رسول الله ﷺ په وړاندې داسې سخت او ډېر شول، چې هغه یې د خپل تره د ژوند پر مهال هېڅ تمه نه درلوده او د حضرت محمد ﷺ حمایت د ابوطالب د ژوند په پرتله کم شو.

نو الله ﷻ هغه ته وحی وکړه، ترڅو د عربو د قبایلو حمایت ځان ته جلب کړي او هغه رسالت چې الله ﷻ ده ته ورکړی دی، د دې حمایت او ملاتړ له لارې خلکو ته ورسوي، ترڅو دی په امن او ملاتړ یې شوی وي. ابن کثیر له علي ابن ابي طالب Φ څخه د سیرت په خپل کتاب کې روایت کړی دی، چې ویلي یې دي: هغه وخت چې الله ﷻ محمد ﷺ ته امر وکړ، چې د عربو د قبیلو حمایت ترلاسه کړي نو حضرت محمد ﷺ په داسې حال کې چې زه او ابوبکر H هم ورسره وو، منا ته ولاړ او د عربو یوه مجلس ته ور داخل شو. همدارنګه ابن کثیر له ابن عباس او هغه له عباس H څخه روایت کوي، چې ویلي یې دي: رسول الله ﷺ ماته وویل:

**(لا اّری لي عندك و لا عند اخيك منعة، فهل انت مخرجي الى السوق غدا حتى نقر في منازل قبايل الناس– و كانت مجمع العرب– قال: هذه كندة ولفها، وهي أفضل من يحج من اليمن، وهذه منازل بكر بن وائل، وهذه منازل بني عامر بن صعصعة، فاختر لنفسك، قال: فبدأ بكندة فأتاهم).**

*"زه د خپل ځان لپاره په تا او ورور کې د دفاع او ملاتړ قوت نه وینم، نو کیږي چې سبا ما بازارته بوځې، ترڅو د قبایلو د خلکو په اقامت ځایونو کې د یوځه وخت لپاره*

*ځای ونیسم– او هغه ځای د عربو د ټولېدو ځای ؤ، عباس وايي، کله چې هلته ورسېدو ومې ويل: دا ده د کنده قبيله او د هغه جماعت. دا هغه بهترينه قبيله ده چې له يمن څخه حج ته راځي او دا هم د بکر بن وايل اقامت ځای دی او هاغه دی د بني عامر ابن صعصعه اقامت ځای، نو ته چې هر يو د ځان لپاره خوښوې خوښ يې کړه، هغه مهال يې د کندې له قبيلې څخه پيل وکړ او هغوی ته ورغی."*

۲. هغه څه چې رسول الله ﷺ د خپل ځان او دعوت د وړاندې کولو په وخت کې له قبايلو څخه غوښتنه دا وه، چې وروسته له ايمان او تصديق څخه به بې له شکه له ده څخه ملاتړ کوي، ترڅو هغه څه چې الله ﷻ نازل کړي دي، هغوی ته ورسوي او ټول هغه نصوص چې د ده مبارک د وړاندې کولو په باره کې راغلي دي، داسې يادوي، چې ده مبارک به له هغوی څخه د خپل ځان او د خپل دعوت لپاره د ملاتړ غوښتنه کوله.

۳. هغه څه چې کنده او بني عامر ابن صعصعه له حضرت محمد ﷺ څخه وغوښتل دا ؤ، چې وروسته له ده څخه به حکومت او واکې د دوی وي، دا په دې دلالت کوي چې دوی د حضرت محمد ﷺ د نصرت او ملاتړ د غوښتنې څخه چې له دوی څخه يې کړې وه په دې پوهېدلي ؤ، چې هغه غواړي د موږ په منځ کې حکومت جوړ کړي، نو له ده ﷺ څخه يې دا وغوښتل چې له ده څخه وروسته به حکومت او واکې د دوی وي.

۴. د مدينې د خلکو نصرت او مرسته کول، د عقبې د دويم تړون لاسليک کول او د دولت رامنځ ته کول هغه وخت چې رسول الله ﷺ هلته ورسېد، په دې دلالت کوي، چې د حضرت محمد ﷺ موخه د ملاتړ او مرسته غوښتنې څخه دا وه، چې يو اسلامي حکومت رامنځ ته کړي، ترڅو هلته اسلامي حکمونه پلي شي.

۵. حزب له دې څېړنې څخه وروسته دې پايلې ته ورسېد، چې مرسته غوښتل له اولې مرحلې ثقافتي کار سره او په دويمه مرحله کې له تفاعل سره توپير لري، سره له

دې چې دا په دویمه مرحله یا تفاعل کې لاس ته راځي او کله چې ټولنه منجمده شي او د دوعوت کوونکو پرمخ ضررونه او خنډونه شدت بیاموم، نو د مرستې غوښتل د واجب الاتباع طریقې یوه برخه ده.

ځکه حزب د نصرت غوښتنه، د خپلو کارونو په فهرست باندې اضافه کړله او دا نصرت به له قدرتمنو خلکو څخه غوښتل کیږي او نصرت به هم د دوو موخو لپاره وي:

الف- د ملاتړ په خاطر، تر څو وکولای شي چې دعوت ورسوي او دی د امن په فضا کې وي.

ب- حکومت ته د رسېدلو لپاره ترڅو خلافت رامنځ ته شي او هغه څه چې الله ﷻ نازل کړي دي په ژوند، دولت او ټولنه کې پلي شي.

سره له دې چې حزب د نصرت غوښتلو په کار باندې اقدام وکړ، نور کارونه یې هم په مستمر او همیشني ډول پرمخ بېول، چې هغه عبارت دي له، په حلقاتو کې متمرکز درسونه، ټولیز ثقافت او څېړنې، امت ته جدي پاملرنه، ترڅو اسلام ته دعوت په غاړه واخلي، د امت په منځ کې د واحد عامه نظر رامنځ ته کول، له کفري او استعمارګرو دولتونو سره مبارزه کول، د هغوی نقشې رسوا کول، د هغوی د دسیسو شنډول، له حکامو سره ټکر او د امت د مصالحو او چارو بیانول او رعایت کول. حزب دې اعمالو ته په همیشني ډول ادامه ورکوي ترڅو د الله ﷻ په مرسته د اسلامي امت لپاره ګټور ثابت شي او بریالیتوب او نصرت به د مسلمانانو په برخه شي او دریمه مرحله به د راشده خلافت اقامه وي، چې هغه مهال به مومنان د الله ﷻ په مرسته خوشالي کوي.

اما دریمه مرحله: دا حکومت ته د رسېدو مرحله ده چې د امت په واسطه د طلب النصرې له لارې اسلام بشپړ، پرته له وېش او تجزیې څخه پلی کوي، دا مهال حزب عملي دور پیلوي او دا هغه دور دی چې د هغې له امله حزب رامنځ ته شوی ؤ، نو د خلافت دولت به قایم شي، د ټولنې په فکر او حس باندې به قوام او برلاسی وي،

اسلام به د مسلمانانو په ژوند کې په انقلابي ډول پلی کوي، تدريج به نه مني ولو که هر ډول شرايط هم موجود وي او اسلامي دعوت به نړۍ ته د جهاد له لارې رسوي.
او دا د الله ﷻ له فضل او مهربانۍ څخه ده، چې پر موږ يې کوي او په ترڅ کې يې اسلام په عامه رايه باندې بدليږي او د امت د خلاصون سبب ګرځي او وروسته له دې چې د خلافت هيڅ نوم پاتې نه وو، بيا په ټولو ژبو کې د هغه نوم راژوندی شو او اوس د هغه بيا رامنځ ته کول او په هغه څه باندې حکم کول چې الله ﷻ نازل کړي دي، د ټولو مسلمانانو يوازينۍ هيله او آرزو ده.
له الله ﷻ څخه غوښتونکي يو، ترڅو زموږ قدمونه پياوړي کړي او په غيبي مرستې له موږ سره کمک وکړي او زموږ ملاوې د ملايکو په واسط ټينګې کړي او مومنانو ته د اخلاص نيت ور په برخه کړي او په قوي نصرت سره موږ سرلوړي کړي او موږ ته د دې وړتيا راکړي چې خلافت رامنځ ته کړو، خليفه تعين کړو او له هغه سره په اوريدلو او اطاعت کولو باندې بيعت وکړو، په دې شرط چې زموږ په منځ کې د الله ﷻ په کتاب او د هغه د رسول ﷺ په سنتو حکم وکړي او کفري نظامونه له ټولو اسلامي هيوادونو څخه ايسته کړي او مسلمانان د خلافت تر بيرغ لاندې راټول شي او د مسلمانانو خاورې د خلافت تر دولت لاندې يوه ټوټه شي او بې له شکه الله ﷻ پر هر هغه څه چې وغواړي قادر دی.

پای